د افغانستان اسلامي امارت

د پوهنې وزارت

د زابل ولایت د پوهنې ریاست

د کیفیت د تضمین آمریت




# د زابل ولایت د عملیاتي پلان د کړنو د پرمختګ کلنۍ تشریحي راپور

د راپور ورکولو دوره: د ۱۴۰۳ کال د حمل څخه د حوت ترپای پورې.

د مطالبو نوملړ


د 1403 مالي کال د څلورمې ربعې(کلنۍ) راپور د چمتو کوونکو نوملړ ........................................ 3

د زابل ولایت په هکله عمومي معلومات ........................................................................ 4

د کړنو لنډیز .............................................................................................. 6

د پوهنې د دري ګونو عرصو پر بنسټ د عملیاتي پلان د کړنو پرمختګ ................................... 10

لومړی برخه: کیفیت او تړاو..................................................................................................................... 10

1. پروګرام: ښوونه او روزنه ................................................................................................................ 10

3. اسلامي زده کړې ..................................................................................................................... 12

3. د کیفیت تضمین ..................................................................................................................... 13

4. سرچینې او اداره..................................................................................................................... 15

5. د پوهنې ریاست اړوند فعالیتونه (نشرات، تفتیش، مخابره، پلان او نور) ..................................................... 16

دویمه برخه: انډولیز لاسرسی..................................................................................................................... 18

1. ښوونه او روزنه..................................................................................................................... 18

3. اسلامي زده کړې ..................................................................................................................... 21

3. سرچینې او اداره..................................................................................................................... 22

4. د پوهنې ریاست اړوند فعالیتونه (نشرات، تفتیش، مخابره، پلان او نور)..................................................... 23

1. ښوونه او روزنه..................................................................................................................... 24

3. اسلامي زده کړې ..................................................................................................................... 26

3. سرچینې او اداره..................................................................................................................... 27

4. د پوهنې ریاست اړوند فعالیتونه (نشرات، تفتیش، مخابره، پلان او نور)..................................................... 29

د غیر پلاني فعالیتونو او لاسته راوړنو برخه ......................................................... 31

تحلیل او پایلې........................................................................................ 32

د پام وړ ستونزې او وړاندیز شوې حل لارې ........................................................... 58

مالي رپوټ تحلیل ................................................................................. 59

ملپاڼې .............................................................................................. 60

# د 1403 مالي کال د څلورمې ربعې/ کلني راپور د چمتو کوونکو نوملړ

| نوم او کورنی نوم | دنده | برېښنا لیک | گرځنده شمېره/واتساپ | لاسلیک |
|---|---|---|---|---|
| شریف الله (شریف) | د کیفیت تضمین آمر | Sharif.Sharafat2015@gmail.com | 0700491318 | |
| مولوی محمد نسیم (نصیر) | دښوونې او روزنې آمر | Nasimnasir2024@gmail.com | 0748388082 | |
| عبدالوکیل (زابلی) | د منابع او اداري آمر | a.zabuly@yahoo.com | 0700002149 | |
| مولوی محمد امین (نعمان) | د اسلامي زده کړو آمر | برېښنالیک نلري | 0706362213 | |

د پوهنې د رییس تاییدي:

| نوم او تخلص | دنده | برېښنالیک | گرځنده شمېر/واتساپ | لاسلیک |
|---|---|---|---|---|
| الحاج مولوي گل ولي (متقي) | د زابل ولایت پوهنې رئیس | برېښنالیک نلري | 0773296351 | |

## د زابل ولایت په هکله عمومي معلومات




د زابل ولایت د افغانستان په جنوب لودیځ کې دشمالي عرض البلد په (66) درجو د ختیځ طول البلد په (33) درجو (7) دقیقو کې د کابل کندهار په لویه لاره موقعیت لري.

دا ولایت ۴۵ کاله پخوا د زابل په خپلواک ولایت باندې نومول شوی دی چې 17478 کیلو متره مربع مساحت لري نفوس یې043 371 تنه دي چې له دې جملې څخه 188981 تنه یې نارینه او (182062) تنه یې ښځینه دي.

زابل ولایت د ختیځ لخوا د غزني ولایت ناوې ولسوالی، پکتیکا ولایت د تروه ولسوالی د ډیورنډ له کرښې سره سرحد لري د شمال لخوا د اروزگان له ولایت سره د لویدیځ لخوا د کندهار له ولایت سره او د جنوب لخوا د پاکستان هیواد سره سرحد لري.

د دې ولایت عمده زراعتي محصولات عبارت دي له: غنم ،جوار، وربشې او داسې نور.

**میوې ئې:** خټکي، هندوانې، بادام، انځر، انار، زردالو او داسې نورو میوو څخه عبارت دي.

**ښوونه او روزنه:** په دې ولایت کې ۱۴۰۳ کال د احصائې له مخې ټولټال (168) بابه تعلیمي مرکزونه شتون لري چې له دې جملې څخه 108 بابه ابتدائیه ، ۳۴ بابه متوسطه او 35 بابه لېسه ښوونځي دي. همدارنگه په ۱۴۰۳ مالي کال کې ټولټال 11832 تنه زده کوونکي نوي جذب شوي دي چې له دې جملې څخه 8774 تنه نارینه او 3058 تنه ښځینه زده کوونکي دي.

دعمومي زده کړو پروگرام ټولټال (84970) تنه زده کوونکي لري چې له دې جملې څخه (63111) تنه نارینه او (33859) تنه ښځینه زده کوونکي دي.

**د اسلامي زده کړو پروگرام اړوند تعلیمي مرکزونه:** د اسلامي زده کړو پروگرام ټولټال (538) بابه تعلیمي مرکزونه لري چې له دې جملې څخه یو باب دارالعلوم،3 بابه دارالحفاظونه او 534 بابه مدرسې دي چې په یادو تعلیمي مرکزونو کې ټولټال 49525 تنه طالب العلمان زده کړې کوي چې دټولو ارقامو له جملې څخه 32899 تنه نارینه او 16626 تنه ښځینه طالب العلمان دي.

## سریزه

بسم الله الرحمن الرحیم

الحمدالله رب العلمین و الصلوة و السلام علی سید المرسلین و علی آله و اصحابه اجمعین. اما بعد:

د زابل ولایت د 1403 کال عملیاتي پلان د پوهنې وزارت د عملیاتي پلان موخو ته د رسیدو په پار په دریو برخو (کیفیت او تړاو، انډولیز لاسرسی او روڼ او ځواب ویونکی مدیریت) کې جوړ شوی دی او د دې ولایت د مرکز، ولسوالیو، کلیو او بانډو په سطحه کې د پلي کېدو په حال کې دی، چې د پرمختګ د څرنګوالي په اړه یې د راپور ورکولو مهال ویش سره سم په کمي او کیفي بڼه منظم میاشتني، دري میاشتني او کلني راپورونه چمتو او اړونده ادارو ته استول کیږي.

د عملیاتي پلان د پرمختګ تشریحي راپور جوړولو یوازینی موخه د پلانونو د تطبیق او فعالیتونو د پرمختګ له څرانګوالي څخه په بیلا بیلو وختونو کې ډاډ تر لاسه کول دي تر څو د اداري بیلا بیلو برخو د لاسته راوړنو، ستونزو، ننګونو، ضعف او قوت نقطو څخه معلومات تر لاسه او د دغه نقطو په رڼا کې خپل راتلونکي پلانونو او اړوند چارو ته بڼه والې ور وبخښي.

د زابل ولایت پوهنې ریاست د فعالیتونو او لاسته راوړنو د راپوروونو د لیړد په دوام د عملیاتي پلان د 1403 کال د کړنو د پرمختګ کلنی تشریحي راپور د دري عرصو په رڼا کې چې پورته ذکر شوي دي چمتو او د حمل میاشتې څخه د حوت میاشتې تر پایه پورې د اعتبار وړ او د لاندې برخو درلودونکی دی.

1 ـ د کړنو لنډیز برخه
3ـ د دریو عرصو په اساس د فعالیتونو د تشریح برخه
3ـ د غیر پلاني فعالیتونو برخه
4ـ تحیل او نتیجه ګیرۍ برخه
5ـ د عمده ستونزو او وړاندیز شویو حل لارو برخه
6ـ مالي راپور برخه
7ـ د معلوماتي او احصایوي ملپاتړو برخه

# د کړنو لنډیز

## 1. کېفیت او تړاو

### 1. ښوونه او روزنه

- د یونیسف په مالي ملاتړ د مرکز په شمول 10 ولسوالیو کې (۴۹۷) تنو ښوونکو، (۶۳) تنو سرښوونکو، (۶۰) تنو مدیرانو/آمرینو او (۳۷) تنو علمي غړو ته د علمي افکارو، مسؤلیت منلو او ښه چلند په برخو کې د علمي ظرفیت لوړونې پروګرامونه ترتیب شوي دي.
- د ساینس مدیریت د علمي غړو لخوا په مرکز قلات او (شاجوی، ترنک. جلدک، شینکۍ او سیوري) ولسوالیو کې د ۱۹ بابه ښوونځیو د لابراتوارونو د اړتیاوو د معلوملو لپاره سروې ترسره شوې.
- د پروګرامونو د ښه تطبیق په موخه، د ترتیب شویو لایحو، طرالعملونو او لارښوونو د معرفي په هکله روزنیز ورکشاپ د مرکز په کچه (۶۵) تنه رسمي ښوونکو او مامورینو ته دایر شو.

### 2. اسلامي زده کړې

- د اسلامي زده کړو آمریت اړوند ۹۲ نویو مقرر شویو کارکوونکو ته د جوړې شوې کمېټې لخوا د پوهنې ریاست په انګړ کې یو ورځنی ورکشاپ ورکړل شو.
- د اسلامي زده کړو د مسلکي غړو لخوا، د ۵۰ بابه مدرسو او ۱۰ بابه دارالحفاظونو د اداري چارو په اړه پراخه بیا کتنه او ارزونه ترسره شوې ده، چې په دې ترڅ کې د مدرسو او دارالحفاظونو ۱۵۰ اړتیاوې په ګوته او مشخصې شوې.

### 3. کیفیت تضمین

- د نتایجو مدیریت لخوا د دولتي او خصوصي ښوونځیو فارغ زده کوونکو لپاره ۵۶۲ ګروپي شهادتنامې ترتیب،تائید او ویشل شوي دي.
- د پوهنې وزارت له لورې د هلمند ولایت پوهنې ریاست د نتایجو مدیریت ته د دولسم ټولګي فارغ زده کوونکو لپاره ۵۶۲ سپین برې لیکونه ورکړل شوي دي.
- د کیفیت د تضمین آمریت له لوري د پوهنې وزارت څخه رالیږل شویو فارمتونو کې د مربوطه برنامو او د ولسوالیو پوهنې آمریتونو څخه میاشتني راپوورنه راټول او د پلانونو د پرمختګ او لاسته راوړنو په هکله ۴ ربعوار راپوورنه ترتیب او د پوهنې وزارت سره په خپل وخت شریک شوي دي.

### 4. سرچینې او اداره

- د املاکو مدیریت له لوري په شاجوی ولسوالۍ کې د جعفر ښوونځي ملکیت سند، همدارنګه د ۱۷ بابه ښوونځیو او ۱۱ بابه "واش پیکیج" تأسیساتو سجلونه ثبت شوي دي.
- د مالي او اداري مدیریت ۵ تنو کارمندانو ته د پوهنې وزارت له لوري د مالي چارو په برخه کې مسلکي روزنه ورکړل شوه.

- په مرکز قلات کې ۱۴ بابه ښوونځي، په شاجوی ولسوالۍ کې ٦ بابه ښوونځي، په میزانه ولسوالۍ کې ۱ باب ښوونځی او همدارنګه په شهر صفا ولسوالۍ کې ۱ باب ښوونځی چې تعمیرات یې په دولتي ځمکه جوړ شوي دي، د انتقال چارې یې له اړونده ادارو سره په جریان کې دي.

## 2. انډولیز لاسرسی

### 1. ښوونه او روزنه

- په مرکز قلات او ولسوالیو کې ټولټال ۱۱۸۳۲ تنه زده کوونکي جذب شوي دي چې له دې جملې څخه ۳۰۵۸ تنه ښځینه زده کوونکي دي.
- په مرکز قلات او شپرو ولسوالیو کې ټولټال (۹۰۸) تنه نالوستي کسان جذب شوي دي.
- له بهر څخه راستانه شویو ۲۵ تنو څخه د طرزالعمل مطابق د تثبیت ازموینه واخیستل شوه او اړونده صنفونو ته معرفي شول. همدارنګه، ۴۰۵ تنه مجاهدین د شپې لېسې ته د زده کړې لپاره معرفي شوي دي.
- د عمومي زده کړو آمریت اړوند د سواد زده کړې مدیریت لخوا په مرکزقلات او (6) ولسوالیو کې (50) بابه د سواد زده کړې کورسونه رامنځته شوي دي.

### 2. اسلامي زده کړې

- په مرکز قلات، شاجوی او شنکی ولسوالیو کې ۱۰ بابه کلیوالي مدرسې جوړې شوي دي. همدارنګه، ۳ کلیوالي دارالحفاظونه، چې یو باب یې په مرکز قلات کې، یو باب یې په ارغنداب ولسوالۍ کې او یو باب یې په خاک افغان ولسوالۍ کې ایجاد شوي دي.
- په مرکز کې د قلات بابا دارالعلوم ته 1 کمپیوټر او 1 دانه پرینټر ورکړل شوی دی.
- په مرکز قلات او ټولو ولسوالیو په ځینو مدرسو کې ٦۰۰ طالب العلمانو ته د لیلیې زمینه مساعده شوې ده.
- د زابل ولایت په مرکز او ولسوالیو کې 180 بابه مدرسې نوې ایجاد شوي دي.
- د مرکز قلات دارالعلوم په لومړنۍ دورې کې 54 تنه طالب العلمان نوي جذب شوي دي.
- د اسلامي زده کړو آمریت اړوند په مرکز او ولسوالیو کې ۴۷۰ بابه کلیوالي مدرسو ته اجناس توزیع شوي دي.

### 3. سرچینې او اداره

- د مالي کال ترپایه (۲) بابه ښوونځیو له ابتدائیه څخه منځنۍ ښوونځۍ او (۱) باب ښوونځۍ له متوسطه څخه لیسې دورې ته ارتقاء کړې ده.
- د اسلامي امارت له بودیجې څخه د ۱۷ بابه ښوونځیو ترمیماتي پروژې عملي شوي دي.

## 3. آغېزمن، روڼ او ځواب ويونکی مديريت

### 1. ښوونه او روزنه

- د مسلکي پراختيا علمي غړو له لوري د 961 تنه ښوونکو، 58 تنه مديرانو او 40 تنه سرښوونکو په مشاهده تر سره شوې ده.
- د ښوونکو د مسلکي پراختيا د علمي غړو لخوا په مرکز قلات او (شاجوی، ارغنداب، دايچوپان، خاک افغان، مېزانه، ترنک، جلدک، سيوري، شينکی، نوبهار او شملزو) ولسواليو کې (۱۵۳) بابه ښوونځيو، (۲۸۹) بابه کليوالي ټولګيو، او (۱۲۷) بابه چټکو زده کړو څخه حمايوي څارنه ترسره شوې ده.
- د ښوونکو د مسلکي پراختيا غړو له لورې د زابل ولايت په کچه د ښوونځيو د 37 شوراګانو له کارونو څخه څارنه تر سره شوې ده.
- د زابل ولايت په کچه 12 علمي راپورونه راټول او د تحليل او توحيد وروسته اړونده مراجعو ته وړاندې شوي دي.
- د زابل ولايت په کچه د چټکو زده کړو 7108تنه نارينه او 4583 تنه ښځينه زده کوونکو اړونده دولتي ښوونځيو ته انتقال شوي دي.
- په مرکز قلات او ولسواليو کې د ښوونځيو، مدرسو، محلي او چټکو زده کړو ټولګيو (89640) تنه شاګردانو ته اليندازول د ګولۍ توزيع شوې دي.

### 3. اسلامي زده کړې

- د زابل ولايت په کچه د دولسم ټولګي لپاره د 301 تنه او څوارلسم ټولګي لپاره د 110 تنه علماء کرامو سندونه ثبت شوي دي.
- د اسلامي زده کړو آمريت اړوند د علمي غړو لخوا 50 بابه مدرسو او 10 بابه دارالحفاظونو د اداري کارونو څخه کتنه ترسره شوې ده.
- د اسلامي زده کړو آمريت اړوند د قلات دارالعلوم 3 تنه ښوونکي د کدري امتياز څخه برخمن شوي دي.

### 3. سرچينې او اداره

- د کارکونکو چارو د راجستريشن په سيستم کې د مرکز په کچه ټولټال(143) خالي بستونه او د ولسواليو په کچه (409) خالي بستونه پيژندل شوي دي.
- د زابل ولايت په کچه 689 تنه کارمندانو ته د هويت کارتونه ويشل شوي دي.
- په مرکز قلات کې 8 بابه او په شاجوی ولسوالۍ کې د 1 باب ښوونځي لپاره حويلۍ په کرايه نيول شوي دي.

### 4. رياست اړوند فعاليتونه

- د زابل ولايت څخه ۲ تنه په دريم بستونو کې او همدارنګه 30 تنه په څلورم بستونو کې د وزارت مقام ته پيشنهاد شوي دي.
- د پلان مديريت لخوا ۲۱ ساختماني پروژو کانسيپټ نوټونو تحليل، انسجام او توحيد ترسره شوی دی.
- د زابل پوهنې رياست د پلټنې مديريت لخوا په مرکز قلات کې د ۴ ځانګړو قضيو په اړه اړين اجراآت ترسره شوي دي.
- په مرکز او ولسواليو کې ۴۷۷ تنه کارمندانو ته د اسلامي شريعت د احکامو سره سم توصيه او د هغوی د صورت او سيرت اصلاح او د اسلامي امارت د پاليسۍ پر بنسټ د اولوالامر اطاعت کولو ته رابلل شوي دي.

## عمده ستونزې

- د ښوونځیو د ارتقاء لپاره کافي تشکیل نشتون.
- د همکارو موسسو له لوري د ترمیماتو نشتون.

## حل لارې

- د ښوونځیو د ارتقاء لپاره تشکیل راولیږل شي.
- د همکارو موسسو سره همغږي وشي تر څو ترمیمات وکړي.

# د پوهنې د درې ګونو عرصو پر بنسټ د عملیاتي پلان د کړنو پرمختګ

## لومړۍ برخه: کیفیت او تړاو

**ټولیزه موخه:** زده کوونکي به په ټولو کچو کې پوهه، مهارتونه، چلندونه او ارزښتونه چې د یو سالم، مسؤلیت منونکي، رشید، او تولیدونکي وګړي لپاره اړین دي ترلاسه کړي او هغوئ به د ټولنیزې هوساینې په بهیر کې د آغېزمنې ونډې اخیستنې او ګټون لپاره چمتو او په کورنیو او نړیوالو بازارونو کې به د خوندي او دوامداره دندې لپاره سمبال شي.

### 1. پروګرام: ښوونه او روزنه

**1.1 فعالیت: د مرکزي او ولایتي ښوونځیو دکتابتونونو د کتابدارانو د اړتیاوو ارزونه او ظرفیت لوړول؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال تر پای پورې، یاد فعالیت نه دی ترسره شوی، ځکه چې له مرکز څخه پلاوی نه دی راغلی، ترڅو د ښوونځیو د کتابتونونو د کتابدارانو د اړتیاوو ارزونه او د هغوی ظرفیت لوړونه ترسره کړي.

**1.2فعالیت: د عمومي زده کړو، اسلامي زده کړو او سواد زده کړې د اړتیاوو د ارزونې موندنو پر بنسټ د ښوونیزو موادو پراختیا؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال تر پای پورې، د عمومي زده کړو، اسلامي زده کړو او سواد زده کړې په کورسونو کې د اړتیاوو د ارزونې پر بنسټ، د ښوونیزو موادو د پراختیا په موخه، د مرکز قلات، شاجوی، شینکی او دایچوپان ولسوالیو د ۳۰ بابه سواد زده کړې کورسونو څخه (۹۰) ځله تکراري لیدنه شوې ده. د دغو څارنو په پایله کې، د ښوونیزو موادو کچه پراخه شوې او کیفیت یې ښه شوی دی.

**1.3فعالیت: د ولایتونو په کچه د علمي غړو (مربیانو) ظرفیت لوړل؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال تر پای پورې، د مرکزي ټیم له لوري، د عامه پوهاوي د لوړولو په موخه، (۲۳) تنو ولایتي علمي غړو ته روزنه ورکړل شوې ده. د دې روزنې په نتیجه کې، د یادو غړو د عامه پوهاوي کچه لوړه شوې ده. همدرانګه، د ولایتي علمي غړو له خوا د ولسوالیو په کچه علمي غړو ته د روزنې پروګرام د بودیجې د نشتوالي له امله ترسره نه شو.

**1.4فعالیت: د علمي افکارو، مسؤلیت منلو او ښه چلند په برخه کې په مرکز او ولایتونو کې د ښوونکو، مدیرانو او د ښوونځیو د اداري شوراګانو او علمي غړو لپاره د ظرفیت لوړولو د پروګرامونو ترتیبول؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال تر پای پورې، د یونیسف په مالي ملاتړ، په مرکز قلات، خاک افغان، ارغنداب، مېزانه، سیوري، شاه جوی، نوبهار، شینکی، ترنک و جلدک او شملزو ولسوالیو کې (۴۹۷) تنو ښوونکو، (۶۳) تنو سرښوونکو، (۶۰) تنو مدیرانو/آمرینو او (۳۷) تنو علمي غړو ته د علمي افکارو، مسؤلیت منلو او ښه چلند په برخو کې د علمي ظرفیت لوړونې پروګرامونه ترتیب شوي دي.

**1.5فعالیت: کارکوونکو ته د جواز ورکولو د سیستم د پلی کیدو په موخه لازم چمتوالی؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال تر پای پورې، یاد فعالیت د بودیجې د نشتون له امله نه دی ترسره شوی.

**1.6فعالیت: د لابراتوارنو د اړتیاوو معلومولولپاره سروې او په مرکز او ولایتونو کې د ترسره شوو پروګرامونو حمایوي څارنه؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال تر پای پورې، د مرکز د ساینس مدیریت د علمي غړو لخوا په مرکز قلات او (شاجوی، ترنک و جلدک، شینکی او سیوري) ولسوالیو کې د ۱۹ بابه ښوونځیو د لابراتوارونو د اړتیاوو د معلوملو لپاره سروې ترسره شوې، چې د یادې څارنې په ترڅ کې د لابراتوارونو اړتیاوې په ګوته شوې دي.

1.7**فعالیت: د لابراتوارونو او کمپیوټرونو اغیزمنتوب او کارولو څخه څارنه او لیدنه؛**
د ۱۴۰۳ مالي کال تر پای پورې، د ساینس مدیریت د علمي غړو لخوا په مرکز قلات او ولسوالیو کې د ۱۲ بابه ښوونځیو د لابراتوارونو او ۷ بابه د کمپیوټر لیبونو د اغېزمنتوب د ارزونې په موخه څارنه ترسره شوې، چې د یادو ښوونځیو مسؤلینو ته د کمپیوټرونو د اغېزمنتوب د لوړولو لپاره لازمې سپارښتنې ورکړل شوې دي.

1.8**فعالیت: د ساینس ولایتي مدیریتونو علمي غړو او لابرانت لپاره د ساینس، ریاضي او کمپیوټر برخه کې د روزنیزو پروګرامونو تنظیمول؛**
د زابل ولایت پوهنې ریاست د عمومي زده کړو آمریت اړوند، د مرکز ساینس مدیریت علمي غړو له خوا د مرکز قلات او اړوندو ولسوالیو په کچه ۵۰ تنو لابرانټ ښوونکو ته د ساینس، ریاضیاتو او کمپیوټر په برخو کې مسلکي روزنه ورکړل شوې ده. همداراز، د علمي غړو د ظرفیت لوړونې په موخه د مرکزي ټیم له خوا روزنیز پروګرامونه نه دي ترسره شوي.

1.9**فعالیت: د مسلکي غړو له خوا دکابل ښار او په ولایتونو کې د ریاست د تخنیکي غړو لخوا د واش** Deworming (WASH) **په برخه کې د څاروندی د تروپ ګروپونو او بدني روزنې ښوونکو لپاره د سیمینارونو او ورکشاپونو دایرول؛**
د ۱۴۰۳ مالي کال تر پای پورې، د ترنک و جلدک او مېزانې ولسوالیو په کچه د واش ډیورمېنګ په برخه کې یو ورځنی مهم سیمینار جوړ شو، چې پکې د بدني روزنې ۱۰ تنه ښوونکي، ۴ تنه د اصول صنفي ښوونکي، او ۲۴ تنه ښوونکي، مدیران، آمرین او مسلکي روزل شوي غړو فعال ګډون وکړ.

1.10 **فعالیت: د ځاني ارزونې له مخې د قابلیتونو د ارزونې په برخه کې د ولایتونو او کابل ښار په ګډون د لازم ظرفیت رامنځته کول او د سواد زده کړې د پروګرامونو د کیفیت د ښه والي لپاره د لازمو لارښوونو ترتیبول او ملي کول؛**
د ۱۴۰۳ مالي کال تر پای پورې، د څارنې ارزونې له مخې د قابلیتونو د ارزونې په برخه کې د اړین ظرفیت رامنځته کولو او د سواد زده کړې پروګرامونو د کیفیت د ښه والي په موخه، د مرکزي ریاست څخه راغلي دوه نفري ټیم له لوري د سواد زده کړې عمومي مدیریت ۳ تنه مامورینو او همدارنګه ۳ تنه رسمي ښوونکو ته څلور ورځنۍ مېتودیک سیمینار دایر شو.

1.11**فعالیت: د مرکز په کچه د سواد زده کړو د پروګرامونو د ښه تطبیق په موخه، د ترتیب شویو لایحو، طرزالعملونو او لارښودونو د معرفي په هکله د روزنیز ورکشاپ په لاره اچول؛**
د ۱۴۰۳ مالي کال تر پای پورې، د پروګرامونو د ښه تطبیق په موخه، د ترتیب شویو لایحو، طرالعملونو او لارښوونو د معرفي په هکله روزنیز ورکشاپ د مرکز په کچه (۶۵) تنه رسمي ښوونکو او مامورینو ته دایر شو، چې د ورکشاپ پر مهال ګډونوالو ته د اړونده موضوعاتو په اړه دقیقې لارښوونې ورکړل شوې.

1.12**فعالیت: د سواد زده کړې پروګرام د پلي کولو لپاره د سرچینو تشخیص او ترلاسه کول، د دولتي، غیر دولتي بنسټونو او رضاکارانو ملاتړ ترلاسه کول؛**
د ۱۴۰۳ مالي کال تر پای پورې، یاد فعالیت د دولتي او غیر دولتي بنسټونو د ملاتړ د نشتون، د فقر او غربت د کچې لوړوالي له امله ندی تر لاسه شوی.

**1.13 فعالیت: د سیمه ییزو خلکو (رضا کارانو) له لارې د 18 ولایتونو په کچه د ولایتونو د پوهنې په ریاستونو کې د کلیو د سواد زده کړې کمېټو د غونډو جوړول؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال تر پای پورې، په مرکز قلات کې د سواد زده کړې کمېټې لخوا درې مهمې او اغیزمنې غونډې ترسره شوې، چې په دې غونډو کې ۲۲ کسانو برخه اخیستې وه. همدارنګه، په مېزانه، شاجوی، خاک افغان، اطغر او شنکی ولسوالیو کې د سواد زده کړې کمېټو لخوا ۳۳ غونډې د خلکو د پوهاوي لوړولو او پرمختګ لپاره ترسره شوې، چې په دې غونډو کې ټولټال ۱۶۰ کسانو ګډون کړی او د سواد زده کړې په برخه کې یې خپل علمي ظرفیت ته وده ورکړه.

**1.14 فعالیت: د خصوصي ښوونځیو د قانوني اسنادو د تطبیق څارنه او د جواز ورکولو پروسې اسانتیا او چټکتیا؛همدارنګه، دشرایطو تحلیل او په هغو ولایتونو کې چې له لسو څخه کم خصوصي ښوونځي شتون لري، د پوهنې په برخه کې د خصوصي سکتور د مشارکت لپاره د زمینې برابرول؛"**

د ۱۴۰۳ مالي کال تر پای پورې، د ترنک خصوصي لیسې چې د جواز موده یې پای ته رسیدلې وه، جواز یې تمدید شو. همدارنګه، د ترنک خصوصي نمبر ۴ ښوونځي ته چې په مرکز کې موقعیت لري، د اړونده معیارونو او ارزونو پراساس جواز ورکړل شو.

## 3. اسلامي زده کړې

**2.1 فعالیت: دارالعلوم ته د مدرسو لوړول؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال تر پای پورې، د اړوندو شرایطو د نه پوره کیدو له امله هیڅ یوې مدرسې دارالعلوم ته ارتقاء نه ده کړې.

**2.2 فعالیت: د دارالعلومونو د اداري او تدریسي چارو د بیا کتنې او ارتیاؤ معلوموملو په موخه د علمي او تدریسي غړو لېږل؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال تر پای پورې، د دارالعلومونو د اداري او تدریسي چارو د بیاکتنې او اړتیاؤ معلوملو په موخه، علمي او تدریسي غړي نه دي لیږل شوي. ځکه چې د اسلامي زده کړو اړوند مسلکي غړي په بشپړ ډول نه دي ګمارل شوي، ځینې یې یوازې د جدی په میاشت کې ګمارل شوي دي. په دې اساس، تر اوسه پورې د دارالعلوم نظارت نه دی ترسره شوی او نه یې تر اوسه پورې اړتیاوې په ګوته شوې دي.

**2.3 فعالیت: په مرکز او ولایتونو کې د نویو مقرر شویو کارکوونکو د ظرفیت لوړولو په موخه د لارښوونې سیمینارونو دایرول؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال تر پای پورې، د اسلامي زده کړو آمریت اړوند ۹۲ نویو مقرر شویو کارکوونکو ته د جوړې شوې کمېټې لخوا د پوهنې ریاست په انګړ کې یو ورځنی ورکشاپ ورکړل شو.

**2.4 فعالیت: د هېواد په 34 ولایتونو کې د اسلامي زده کړو اړوند مدرسو او دارالحفاظونو د اداري او تدریسي کارونو د بیاکتنې او اړتیاؤ معلوموملو په موخه د علمي او تدریسي غړو ورلیږل؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال تر پای پورې، د اسلامي زده کړو د مسلکي غړو لخوا، د ۵۰ بابه مدرسو او ۱۰ بابه دارالحفاظونو د اداري چارو په اړه پراخه بیا کتنه او ارزونه ترسره شوې ده، چې په دې ترڅ کې د مدرسو او دارالحفاظونو ۱۵۰ اړتیاوې په ګوته او مشخصې شوې.

**2.5 فعالیت: په شته ډیټابیس کې د علماء کرامو د ازموینو ثبتول؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال تر پای پورې، د اسلامي زده کړو آمریت له لوري د ۱۰۳۴ تنو علماء ثبت نام کړی دی، چې له دې جملې څخه ۱۶۶ تنه علماء د مافوق اثانویه درجې، ۴۸۷ تنه د ثانویه درجې، ۲۲۴ تنه د عالمیه درجې او ۱۵۷ تنه علماء د عالیه درجې دي.

**2.6 فعالیت: په مرکز او ولایتونو کې د مدرسو او دارالحفاظونو استادانو ته د نویو درسي کتابونو د وروپیژندلو په موخه د ورکشاپ دایرول؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال تر پای پورې، په مرکز او ولسواليو کې د مدرسو او دارالحفاظونو استادانو ته د نوي درسي کتابونو د ورپېژندلو په موخه پلان شوی ورکشاپ د مالي امکاناتو د نشتون له امله نه دی ترسره شوی.

**2.7 فعالیت: د مدرسو فارغین په عالیه او عالمیه ازموینو کې ثبتول؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال تر پای پورې، ټولټال ۳۸۱ تنه علما کرام، چې ۲۲۴ تنه یې د عالمیه درجې او ۱۵۷ تنه یې د عالیه درجې لپاره نوم لیکنه کړې وه، د ټاکل شوې ارزونې له مخې د امتحان له پړاو څخه تېر شول، او د یادې ارزونې پایلې اعلان شوې دي.

## 3. د کیفیت تضمین

**3.1 فعالیت: د ولایتونو او ولسوالیو په کچه د کیفیت لرونکو احصاییوي ارقامو راټولولو په موخه د ظرفیت لوړونې ورکشاپونو په لاره اچول؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال تر پای پورې، د احصائیوي معلوماتو د کیفیت لوړولو او د ظرفیت پراختیا په موخه، د احصاییی مدیریت ټیم له خوا درې ځلې د ښوونځیو، مدرسو مسؤلینو ته سیمینارونه جوړ او روزنه ورکړل شوې ده.

**3.2 فعالیت: د هېواد په کچه د 1403 هـ ش کال احصاییوِي ارقامو 10% کتنه او تصدیق؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال ترپای پورې، د احصایې مدیریت لخوا د ښار او ټولو ولسوالیو د احصائیې ارقام چک او راپورونه یې تائید شویدي.

**3.3 فعالیت: د ډیټاسیټونو، ولایتي پروفایلونو، د احصایې او معلوماتو تحلیلي کتابونو او پوهنې اطلس په بڼه د 1403 هـ ش کال د احصایي ترتیبول او د نشراتو ریاست ته استول؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال ترپای پورې، د احصایې مدیریت له لوري د ولایتي پروفایل لپاره ټول لازم مواد د اړونده څانګو څخه راټول شوي دي او مربوطه مرجع ته په خپل وخت استول شوي دي.

**3.4 فعالیت: د ډیټاسیټونو، ولایتي پروفایلونو، د احصایې او معلوماتو تحلیلي کتابونو او پوهنې اطلس په بڼه د 1403 هـ ش کال د احصایي ترتیبول او د نشراتو ریاست ته استول؛"**

د ۱۴۰۳ مالي کال ترپای پورې، د احصایې مدیریت له لوري د ولایتي پروفایل لپاره ټول لازم مواد د اړونده څانګو څخه راټول شوي او مربوطه مرجع ته په خپل وخت استول شوي دي.

**3.5 فعالیت: د نویو تاسیس شویو او د تېرو کلونو د پاتې ښوونځیو د مختصاتو راټولول؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال ترپای پورې، د احصایې مدیریت له لوري د زابل ولایت په سطحه د ۴۶۸ بابه نویو تأسیس شویو او همدارنګه د تیروکلونو د پاتې شویو ښوونځیو مختصات راټول شوي دي.

**3.6 فعالیت: د بري لیکونو/شهادتنامو ترتیب، تدقیق، طی مراحل او وېشل؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال ترپای پورې، د نتایجو مدیریت لخوا د دولتي او خصوصي ښوونځیو فارغ زده کوونکو لپاره ۵۶۲ ګروپي شهادتنامې ترتیب،تائید او ویشل شوي دي.

**3.7 فعالیت: د ولایتونو پوهنې ریاستونو ته د سپینو بري لیکونو/شهادتنامو وېشل؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال ترپای پورې، د پوهنې وزارت له لورې د هلمند ولایت پوهنې ریاست د نتایجو مدیریت ته د دولسم ټولګي فارغ زده کوونکو لپاره ۵۶۲ سپین بري لیکونه ورکړل شوي دي.

**3.8 فعالیت: د دولسم او څوارلسم ټولګیو د فارغانو د نتایجو جدولونو تدقیق، تطبیق او تاییدول؛**
د ۱۴۰۳ مالي کال ترپای پورې، د نتایجو مدیریت لخوا د دولسم ټولګي د فارغینو ۲۳ جلده نتایج تائید او تطبیق شوي دي چې دیادو ارقامو له جملې څخه ۱ جلد د ترنک خصوصي ښوونځی دي.

**3.9 فعالیت: د څارنې، ارزونې او راپور ورکولو په برخه کې فردي او نهادي ظرفیت لوړونه؛**
د ۱۴۰۳ مالي کال تر پای پورې، د کیفیت د تضمین معینیت اړوند د څارنې او ارزونې ریاست له خوا د زابل ولایت پوهنې ریاست د مرکزي مدیریتونو د راپور ورکولو مسؤلینو ته د راپور جوړونې، راپور اخیستنې او د آنلاین سیستم د کارونې په برخه کې ۳۴ تنو ته څلور ورځنی ورکشاپ ورکړل شو.

**3.10 فعالیت: د ولایتونو پوهنې ریاستونو د فعالیتونو او پلانونو له تطبیق څخه ربعواره څارنه؛**
د ۱۴۰۳ مالي کال تر پای پورې، د کیفیت د تضمین معینیت د څارنې او ارزونې ریاست له لوري یو ټیم زابل ولایت ته راغلی و چې د زابل ولایت د عملیاتي پلان د کړنو څخه یې څارنه ترسره کړه.

**3.11 فعالیت: د ولایتونو د پوهنې ریاستونو او کابل ښار پوهنې ریاست اړوند د پوهنې وزارت د همکارو مؤسسو له پروژو څخه څارنه؛**
د ۱۴۰۳ مالي کال تر پای پورې، د LKRO او SADA مؤسسو له پروژو څخه شپږ ځله په تکراري ډول څارنه ترسره شوې، چې د دغو څارنو راپور ترتیب او اړوندو مراجعو ته استول شوی دی.

**3.12 فعالیت: د عملیاتي پلان له تطبیق څخه د څارنې او ارزونې په موخه د راپور ورکولو سیستم استفاده کول؛**
د ۱۴۰۳ مالي کال تر پای پورې یاد فعالیت نه دی ترسره شوی، ځکه چې تر دې دمه د پوهنې وزارت له لوري د څارنې او ارزونې په موخه د راپور ورکولو آنلاین سیستم فعال شوی نه دی.

**3.13 فعالیت: د 1403 کال لپاره د عملیاتي پلان او د باثباته پراختیایي موخو پر بنسټ د ولایتونو د پوهنې ریاستونو له کلنی کړنو څخه د ارزونې ترسره کول؛**
د ۱۴۰۳ مالي کال تر پای پورې، د کیفیت د تضمین معینیت د څارنې او ارزونې ریاست له لوري یو ټیم زابل ولایت ته راغلی و چې د زابل ولایت پوهنې ریاست له کلنی کړنو څخه یې څارنه ترسره کړه.

**3.14 فعالیت: د عملیاتي پلان د راپور ورکولو آنلاین سیستم پراختیا او تطبیق؛**
د ۱۴۰۳ مالي کال تر پای پورې، د پوهنې وزارت له لوري یو پلاوی راغلی و، څو د راپور ورکولو آنلاین سیستم فعال کړي او د تحلیل او توحید راپورونو غړو ته د سیستم د کارونې اړوند روزنه ورکړي، ترڅو میاشتني راپورونه پر وخت د یاد سیستم له لارې ثبت شي.

**3.15 فعالیت: د چمتو شوي فارمټ سره سم، د ولایتونو په کچه د پلانونو د پرمختګ او لاسته راوړنو ربعوار راپورونو راټولول؛**
د ۱۴۰۳ مالي کال ترپایه، د کیفیت د تضمین آمریت له لوري د پوهنې وزارت څخه رالیږل شویو فارمټونو کې د مربوطه برنامو او د ولسوالیو پوهنې آمریتونو څخه میاشتني راپورونه راټول او د پلانونو د پرمختګ او لاسته راوړنو په هکله ۴ ربعوار راپورونه ترتیب او د پوهنې وزارت سره په خپل وخت شریک شوي دي.

**3.16 فعالیت: د مرکز او ولایتونو په کچه د تقنیني اسنادو او پالیسیو د تطبیق د وړتیا ارزونه او تجربوي تطبیق؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال تر پای پورې یاد فعالیت نده ترسره شوی، ځکه چې د پوهنې وزارت څخه ټیم نده راغلی ترڅو د تقنیني اسنادو او پالیسیو د تطبیق د وړتیا ارزونه او تجربوي تطبیق ترسره کړي.

**3.17 فعالیت: د مرکز او ولایتونو په کچه د تقنیني سندونو او پالیسیو په برخو کې د کارکوونکو روزل او ظرفیت لوړونه؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال تر پای پورې یاد فعالیت نده ترسره شوی، ځکه چې د پوهنې وزارت څخه ټیم نده راغلی ترڅو د تقنیني اسنادو او پالیسیو په برخه کې کارکوونکو ته روزنه ورکړي.

## 4. سرچینې او اداره

**4.1 فعالیت: د 1402 کال د لګول شوې بودیجې له څرنګوالي څخه څارنه او همدارنګه 13 ولایتونو او آتشوو مالي کړنو په برخه کې لارښوونه کول؛**

د زابل ولایت د پوهنې ریاست د سرچینو او اداري آمریت د ۱۴۰۲ مالي کال د لګول شوې بودیجې د څرنګوالي څخه بشپړه څارنه ترسره کړې ده. چې یاده څارنه د شفافیت، حساب ورکونې او د مالي منابعو د مؤثرې استفادې د تضمین په موخه ترسره شوې ده.

**4.2 فعالیت: د مرکز او ولایتونو په کچه د مالي چارو په برخه کې د کارکوونکو د ظرفیت لوړول؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال تر پای پورې، د زابل ولایت د پوهنې ریاست د مالي او اداري آمریت اړوند، د مالي او اداري مدیریت ۵ تنو کارمندانو ته د پوهنې وزارت له لوري د مالي چارو په برخه کې مسلکي روزنه ورکړل شوه، ترڅو یاد کارمندان د بودیجې د لګښت، حساب ورکونې او مالي اسنادو د تنظیم په برخو کې خپله وړتیا لوړه کړي.

**4.3 فعالیت: د پوهنې وزارت د اداري کارکوونکو له پاره د ظرفیت لوړولو د استراتیژۍ طرحې جوړول؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال تر پای پورې، د اداري کارکوونکو د ظرفیت لوړولو لپاره ستراتیژي جوړه شوې او د کارکوونکو د ظرفیت د کچې ټاکل شوې معیار بشپړ شوی دی.

**4.4 فعالیت: د مرکز او ولایتونو په کچه د کارکوونکو د سوانحو دفترونو تدقیق، تصحیح، تطبیق او برېښنایي کول؛**

د 1403 مالي کال ترپای پورې، یاد فعالیت د امکاناتو د نشتون له امله نه دی ترسره شوی.

**4.5 فعالیت: د مرکز او ولایتونو په کچه د مدرسو او ښوونځیو د جایدادونو له پاره د ملکیت سندونو جوړول؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال تر پایه، د شاجوی ولسوالۍ د پوهنې آمریت اړوند د جعفر لیسې د ځمکې ملکیتي اسناد ترتیب شوي، څو د یاد ښوونځي قانوني ملکیت تثبیت او راتلونکې ودانیزې چارې پیاوړې شي.

**4.6 فعالیت: د مرکز او ولایتونو په کچه د اداري ځایونو او روزنیزو مرکزونو د ودانیو، ترمیمولو او احاطو سجل کول؛**

که څه هم د ۱۴۰۳ مالي کال تر پایه ۱۷ ترمیماتي پروژې تر کار لاندې دي، خو د ثبت او تثبیت لپاره لازمي جوړښتونه، لکه تعمیرات او احاطوي دیوالونه، لا تر اوسه مهیا شوي نه دي.

**4.7 فعالیت: د املاکو په دفترونو او معلوماتي سیستم کې د ملکیتونو د سندونو او سجلو ثبتول او د هغو فایلبندي؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال تر پای پورې، د املاکو مدیریت له لوري په شاجوی ولسوالۍ کې د جعفر ښوونځي ملکیت سند، همدارنګه د ۱۷ بابه ښوونځیو او ۱۱ بابه "واش پیکیج" تأسیساتو سجلونه ثبت شوي دي.

**4.8 فعالیت: د هغو سپینو او امارتي ځمکو تثبیتول چې په هغو باندې پخوا د ښوونځیو او مدرسو ودانۍ جوړې شوي او تر اوسه پورې دې وزارت نه دي انتقال شوي؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال تر پای پورې، په مرکز قلات کې ۱۴ بابه ښوونځي، په شاجوی ولسوالی کې ٦ بابه ښوونځي، په میزانه ولسوالی کې ۱ باب ښوونځی او همدارنگه په شهر صفا ولسوالی کې ۱ باب ښوونځی چې تعمیرات یې په دولتي ځمکه جوړ شوي دي، د انتقال چارې یې له اړونده ادارو سره په جریان کې دي.

**4.9 فعالیت: د مرکز او ولایتونو په کچه د غصب، شویو، نیول شویو اودعوایي ځمکو بررسي او د قضیوراټولول او د منازعاتو د حل په معلوماتي سیستم کې ثبتول؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال تر پای پورې، د شیخمتي بابا عالي لیسې تحت دعوه ځمکه د پوهنې ریاست ملکیت ثبت شوه. همدارنگه، د چهل دختران د غصب شویې ځمکې قضیه د محکمې، شاه مردان عالي لیسې د غصب شویې ځمکې قضیه د قومنداني، لیکک ښوونځی د غصب شویې ځمکې قضیه د قضاء امارت، نسوان رسالې د غصب شویې ځمکې قضیه د قضاء امارت، د ښارگوټي د غصب شویې ځمکې قضیه د ولایت محترم مقام او همدارنگه د کوچیانو ښوونځی د ملي اردو او پلي لېوا سره په جریان کې ده.

## 5. د پوهنې ریاست اړوند فعالیتونه (نشرات، تفتیش، مخابره، پلان او نور)

**5.1 فعالیت: د امیرالمؤمنین د فرمانونو او د ریاست الوزرا ، وزیرانو شورا او پوهنې وزارت مشرتابه له حکمونو او لارښوونو څخه د ډاډ تر لاسه کولو په موخه سفر تر سره کول؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال تر پای پورې، د زابل پوهنې ریاست ته د امیرالمؤمنین د فرمانونو او د پوهنې وزارت له حکمونو او لارښوونو څخه د ډاډ ترلاسه کولو په موخه کوم هیئت نه دی راغلی.

**5.2 فعالیت: د عامه پوهاوي او چاپي خپرونو چاپ او ویش؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال تر پای پورې، یاد فعالیت ترسره شوی نه دی، ځکه چې د پوهنې وزارت څخه تر اوسه د عرفان مجله، د بخوان او بیندیش مجلې او بروشرونه زابل ولایت پوهنې ریاست ته نه دي رالیږل شوي.

**5.3 فعالیت: د پوهنې ریاست د یوکلنې کړنې په هکله د کتابونو چاپ؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال تر پای پورې، یاد فعالیت ترسره شوی نه دی، ځکه چې د پوهنې وزارت څخه د پوهنې د یو کلنې کړنو په هکله کتابونه زابل ولایت ته نه دي رالیږل شوي.

**5.4 فعالیت: د ولایتونو، ولسوالیو او ښوونځیو په کچه د درسي کتابونو د ویشلو له پروسې څخه تخنیکي کتنه؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال تر پای پورې، د درسي کتابونو د ویشلو څخه تخنیکي کتنه نه ده ترسره شوې، ځکه چې د مرکز څخه تخنیکي تیم نه دی راغلی.

**5،5 فعالیت: تر پوښښ لاندې ولایتونو د پوهنې ریاستونو د اسلامي زده کړو مرکزونو ته( دارالعلومونو او دارالحفاظونو) د 383973 ټوکه درسي کتابونو چاپ او ویش؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال تر پای پورې، د نشراتو ریاست له لوري د زابل پوهنې ریاست د اسلامي زده کړو مرکزونو ته کتابونه نه دي رالیږل شوي.

**5.6 فعالیت: د هیواد په کچه په پښتو او دري ژبه د سواد زده کړې د 181700 ټوکه درسي کتابونو چاپ او ویش؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال تر پای پورې، د نشراتو ریاست له لوري د زابل پوهنې ریاست په پښتو او دري ژبه د سواد زده کړې مرکزونو ته کتابونه نه دي راليږل شوي.

**5.7 فعالیت: د بدني روزنې د ښوونکو د لارښود د 44965 ټوکه درسي کتابونو ویش؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال تر پای پورې، یاد فعالیت نه دی ترسره شوی، ځکه چې د پوهنې وزارت څخه د بدني روزنې د ښوونکو لارښود کتابونه نه دي راليږل شوي.

**5.8 فعالیت: په مرکز کې د استهلاک شویو کتابونو د لیلام چارو تعقیبول او د ولایتونو د نشراتو مدیرانو له لورې د کارونو د پړاوونو بشپړول؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال تر پای پورې، یاد فعالیت نه دی ترسره شوی، ځکه چې په زابل ولایت کې استهلاک شوي کتابونه نه لرو.

**5.9 فعالیت: د پلټنې په برخه کې د ولایتي او مرکزي کارکوونکو لپاره د روزنیزو پروګرامونو په لاره اچول؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال تر پای پورې یاد فعالیت نه دی ترسره شوی، ځکه چې د مرکز څخه ټیم نه دی راغلی ترڅو د پلټنې په برخه کې کارکوونکو ته روزنه ورکړي.

**5.10 فعالیت: د اړونده پروګرامونو د رسولو په موخه ولایتونو ته د دعوت او ارشاد ریاست د کارکوونکو سفر کول؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال تر پای پورې د اړونده پروګرامونو د رسولو په موخه د دعوت او ارشاد ریاست کارکوونکي زابل ولایت ته نه دي راغلي.

## دویمه برخه: انډولیز لاسرسی

**ټولیزه موخه:** په هېواد کې د ماشومانو، ځوانانو او لویانو، نجونو او ښځو لپاره کیفیت لرونکي او خوندي زده کړو فرصتونو ته د انډولیز او ټول ګډونه لاس رسي زیاتوالی.

### 1. ښوونه او روزنه

**1.1 فعالیت: د هېواد په کچه د ښوونکو د مسلکي پراختیا په موخه د اړونده پروګرامونو د تطبیق له څرنګوالي څخه څارنه؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال تر پایه یاد فعالیت نه دی ترسره شوی،څکه چې له مرکز څخه ټیم نه دی راغلی تر څو د ښوونکو د مسلکي پراختیا په موخه د اړونده پروګرامونو د تطبیق له څرنګوالي څخه څارنه ترسره کړي.

**1.2 فعالیت: د ولایتونو په کچه د تړل شویو ښوونځیو د بیا پرانستلو او برخلیک ټاکلو په اړه لازم اقدامات؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال تر پای پورې، د ۶۰ بابه ښوونځیو د بیا فعالولو په موخه درې مهمو مراجعو (د بهرنیو اړیکو او تمویل کوونکو ریاست، د پوهنې وزارت، او د ریاست‌الوزرا مقام) ته وړاندیزونه استول شوي دي، خو تر دې دمه د شاوخوا ۱۵،۷۶۱ زده‌کوونکو د برخلیک د روښانه کولو په برخه کې هیڅ اقدام نه دی شوی.

**1.3 فعالیت: د فزیک، کیمیا، بیولوژۍ، ریاضي او محیطي ساینس په برخو کې د شته کمپیوټر لبو او لابراتوارونو تجهیزول او رامنځته کول؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال تر پای پورې، د زابل ولایت د پوهنې ریاست د ساینس مرکز مدیریت علمي غړو له لوري د ښوونځیو د علمي ظرفیت لوړولو په موخه مهم ګامونه پورته شوي دي. په دې لړ کې، په مرکز قلات، شاجوی، شینکی او سیوري ولسوالیو کې پنځه (۵) نوي لابراتوارونه جوړ شوي دي. له دغو لابراتوارونو څخه یو د مرکز قلات سور غر لیسه کې، دوه د شاجوی ولسوالی د هولان رباط او جمال خیلو لیسو کې، یو د شینکی ولسوالی د شاه عالم لیسه کې، او بل د سیوري ولسوالی د بولان عالي لیسه کې رامنځته شوی دی. همدارنګه، درې (۳) لابراتوارونه په مرکز قلات او شاجوی ولسوالی کې بشپړ تجهیز شوي دي.

**1.4 فعالیت: په دولتي ښوونځیو کې د مرکز او ولایاتو په کچه د 1000000 جدیدالشمول زده کوونکو جذبول؛**

د 1403 کال د دریمې ربعې تر پایه په مرکز قلات او ولسوالیو کې ټولټال 11733 تنه زده کوونکي جذب شوي دي چې له دې جملې څخه ۳۰۵۸ تنه ښځینه زده کوونکي دي.

| شماره | ولسوالي | جدیدالشمول زده کوونکي | | مجموعه |
|---|---|---|---|---|
| | | ذکور | اناث | |
| 1 | قلات | 2968 | 1444 | 4412 |
| 2 | نوبهار | 117 | 43 | 160 |
| 3 | اتغر | 253 | 61 | 314 |
| 4 | ارغنداب | 559 | 212 | 771 |
| 5 | شملزي | 459 | 208 | 667 |
| 6 | سیوری | 154 | 72 | 226 |
| 7 | شنکی | 231 | 37 | 268 |
| 8 | خاک افغان | 117 | 0 | 117 |

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| 9 | شاجوی | 3179 | 680 | 3859 |
| 10 | مېزانه | 108 | 56 | 164 |
| 11 | شهر صفا | 323 | 126 | 449 |
| 12 | دایچوپان | 306 | 119 | 425 |
| ټولټال | | 8774 | ۳۰۵۸ | 11832 |

**1.5 فعالیت: د کابل ښار او ولایتونو په کچه د 150 بابه نويو ښوونځيو تأسيس؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال تر پای پورې، د زابل ولایت په سطحه مدرسې د تشکیل د نشتون له امله ندي تأسیس شوي.

**1.6 فعالیت: په کابل ښار او ولایتونو کې د اړوندو ادارو سره د پخوانی همغږۍ پر بنسټ د منځنۍ دورې ښوونځيو د لومړنيو ښوونځو لیسې ښوونځيو ته د منځنیو ښوونځيو لوړول؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال تر پای پورې، د شاجوی ولسوالۍ یو باب ښوونځی له ابتدائیې دورې څخه منځنی دورې ته ارتقاء شوی، همدارنګه د مرکز قلات د کاکړانو مختلط ابتدائیه ښوونځی منځنۍ دورې ته لوړ شوی، او د مرکز قلات اړوند اومکي منځنۍ ښوونځی بیا لیسې دورې ته ارتقاء موندلې ده.

**1.7 فعالیت: جلا کول، د نوم بدلول، ادغام، د جنسیت بدلون، د اقلیم بدلون او په مرکز او ولایتونو کې له یوه ځای څخه بل ځای ته د ښوونځيو انتقال؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال تر پای پورې، د زابل ولایت د پوهنې ریاست د عمومي زده کړو آمریت اړوند په سردسیره او ګرم سیره ولسوالیو کې د ښوونځیو جلاکول، نوم بدلول، ادغام، د جنسیت بدلون او د اقلیم بدلون له امله د ښوونځیو انتقال د اړتیا او غوښتنو د نشتوالي له امله نه دي ترسره شوي..

**1.8 فعالیت: د مرکزي او ولایتي ریاستونو او اړوندو ادارو سره د ښوونځيو جوړولو د پروژو (د احاطې دیوال، احاطې او د پاکو اوبو څاه ګانو) په برخو کې همغږي؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال تر پای پورې، د شاجوی ولسوالۍ د جمال خېلو او موسی زيي، او د ارغنداب ولسوالۍ د شالکوټ او حضرت عمر فاروق ښوونځيو کې د یونیسف په مالي ملاتړ او د ایچ آر ډي اې په مالي ملاتړ، د څاه ګانو کیندلو، اوبو مهارولو، د اوبو د نلکیو جوړولو، او د انجونو او هلکانو لپاره عصري فلش سیستم تشنابونه جوړ شوي دي.

**1.9 فعالیت: له بهر څخه راستانه شویو او مجاهدینو د اړتیاوو او غوښتنو سره سم د ټولګیو تثبیتول؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال ترپای پورې، له بهر څخه راستانه شویو ۲۵ تنو څخه د طرزالعمل مطابق د تثبیت ازموینه واخیستل شوه او اړونده صنفونو ته معرفي شول. همدارنګه، ۴۰۵ تنه مجاهدین د شپې لېسې ته د زده کړې لپاره معرفي شوي دي.

**1.10 فعالیت: د مرستندویه موسسو په همکاری د هېواد په ټولو ولایتونو کې د سیمه اییزو او چټکو زده کړو ټولګیو جوړول؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال تر پای پورې، د زابل ولایت د پوهنې ریاست اړوند د عمومي زده کړو آمریت په سردسیره او ګرم سیره ولسوالیو کې د مرستندویه موسسو په همکاری د سیمه اییزو او چټکو زده کړو ټولګي نه دي جوړ شوي.

**1.11 فعالیت: د څارندوي ټیمونو، ترافیک او اور وژنې ټیمونو رامنځته کول او فعالول؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال ترپای پورې، د مرکز قلات اړوند د سینک ابتدائیه ښوونځی او همدارنګه د شاجوی ولسوالۍ اړوند د کوچیانو په لیسه کې ۲ څارندوی ټیمونه، ترافیک او اور وژنې ټیمونه جوړ شوي دي.

**1.12 فعالیت: د سواد د اهمیت په اړه د عامه پوهاوي د لوړولو په موخه د پروګرامونو تنظیمول؛**
د زابل پوهنې ریاست د عمومي زده کړو آمریت اړوند د سواد زده کړو مدیریت لخوا د مالي کال تر پای پورې د عامه پوهاوي په موخه بروشرونه، اعلانات، صوتي او تصویر کلیپونه د بودیجې د نشتوالي له امله نه دي چاپ او وېشل شوي، او همدارنګه د جوماتونو او تکیه خانو له لارې د عامه پوهاوي پروګرامونه د حج او اوقافو ریاست د نه همکارۍ له وجې یاد پروګرامونه نه دي ترسره شوي.

**1.13 فعالیت: د سیمه ایيزو زده کړو، له ښوونځي څخه پاتې ماشومانو په مرکزونو او حرفوي او حیاتي زده کړو په ښوونځیو کې د اړمنو او زده کړې څخه بې برخې خلکو له پاره د سواد، حرفوي، شغلي، سواد حیاتي او ژوند مهارتونو د زمینې برابرول؛**
د ۱۴۰۳ مالي کال تر پای پورې یاد فعالیت نه دی ترسره شوی، ځکه چې په زابل ولایت کې د حیاتي زده کړو ښوونځي شتون نه لري.

**1.14 فعالیت: راستنیدونکو او داخلي بې ځایه شویو لپاره چې د زده کړې څخه بې برخې پاتې د سواد زده کړو د زمینې برابرول؛**
د ۱۴۰۳ مالي کال تر پای پورې، یاد فعالیت نه دی ترسره شوی، ځکه چې د راستنېدونکو او داخلي بې‌ځایه شویو لپاره د هستوګنې یا خدمتونو کوم رسمي کمپ په داخل کې شتون نه‌لري.

**1.15 فعالیت: د سواد زده کړې په کورسونو کې د نالوستو کسانو جذبول؛**
د ۱۴۰۳ مالي کال تر پای پورې، د زابل د پوهنې ریاست د عمومي زده کړو آمریت اړوند د سواد زده کړې مدیریت له لوري، په مرکز قلات او شپږو ولسوالیو کې ټولټال (۹۰۸) تنه نالوستي کسان جذب شوي دي. له دې جملې څخه په مرکز قلات کې (۳۷۶) تنه، په خاک افغان کې (۱۸۰) تنه، دایچوپان کې (۵۰) تنه، شاجوی کې (۱۲۰) تنه، شنکی کې (۳۰) تنه، اطغر کې (۱۲۰) تنه او مېزانه ولسوالی کې (۳۲) تنه نالوستي جذب او دا مهال په زده‌کړو بوخت دي.

**1.16 فعالیت: د ملا امامانو او کوچیانو د پروګرام له لارې د سواد زده کړې په کورسونو کې د نالوستو کسانو جذبول؛**
د ۱۴۰۳ مالي کال تر پای پورې یاد فعالیت د بودیجې د نشتون له امله نه دی ترسره شوی.

**1.17 فعالیت: د هېواد په کچه د سواد زده کړې کورسونو رامنځته کول؛**
د ۱۴۰۳ مالي کال تر پای پورې، د زابل ولایت د پوهنې ریاست د عمومي زده کړو آمریت اړوند د سواد زده کړې مدیریت له لوري د نالوستو کسانو د سواد زده کولو په موخه په مرکز قلات او شپږو ولسوالیو کې ټولټال ۵۰ د سواد زده کړې کورسونه رامنځته شوي دي. له جملې یې ۲۴ کورسونه په مرکز قلات، ۸ په خاک افغان، ۲ په دایچوپان، ۸ په شاجوی، ۲ په شنکی، ۴ په اطغر او ۲ کورسونه په مېزانه ولسوالی کې فعال شوي دي. یاد کورسونه د نالوستو کسانو د پوهنیز حالت د ښه والي لپاره مهم ګام ګڼل کېږي.

**1.18 فعالیت: دخصوصي ښوونیزو موسسو اوکورسونو ملاتړ او اعتبار ورکول؛**
د ۱۴۰۳ مالي کال تر پای پورې، د زابل ولایت د پوهنې ریاست د خصوصي زده کړو مدیریت له لوري په مرکز قلات کې یو باب خصوصي ښوونځی د "ترنک څلورم نمبر" په نوم تأسیس او جواز ورکړل شو. همدارنګه د ترنک خصوصي لیسې جواز تمدید شوی او یو نوی ښوونیز کورس د "سیف" په نوم هم په مرکز کې تأسیس شوی دی. په شاجوی ولسوالی کې د شاجوی خصوصي ښوونځي جواز د مودې پای ته رسېدو له امله تمدید شوی، خو د ښوونیزو کورسونو د تمدید او د ابتدائیه ښوونځیو څخه متوسطه دورې ته د ارتقاء په موخه تر دې دمه چا مراجعه نه ده کړې.

### 3. اسلامي زده کړې

**2.1 فعالیت: د اسلامي زده کړو د رسمي بنسټونو تاسیس، د نوم او بڼې بدلون، ارتقاء، تمدید او د بستونو وېش؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال تر پای پورې، په مرکز قلات او ولسوالیو کې ټولټال 180 مدرسې جوړې شوي دي. د دې مدرسو له جملې څخه 30 بابه په مرکز قلات کې، 35 بابه په شاه جوی ولسوالۍ کې، 27 بابه په خاک افغان ولسوالۍ کې، 9 بابه په شنکی ولسوالۍ کې، 8 بابه په شملزو ولسوالۍ کې، 10 بابه په سیوري ولسوالۍ کې، 7 بابه په مېزانه ولسوالۍ کې، 19 بابه په ارغنداب ولسوالۍ کې، 10 بابه په نوبهار ولسوالۍ کې، او 25 بابه په دایچوپان ولسوالۍ کې نوي مدارس رامنځته شوي دي. همدارنګه، د خاک افغان ولسوالۍ اړوند یوه دیني مدرسه چې نوم یې له "مظهرالعلوم" څخه "مظهرالعلوم انار" ته بدل شوی، او د ارغنداب ولسوالۍ د ابوبکر صدیق مدرسه چې نوم یې "شهداء مدرسې" ته تبدیل شوی دی.

په مرکز قلات کې د سینک په کلي کې د بلال دارالحفاظ مدرسه چې اناث او ذکور شاګردان لري، د ذکور شاګردانو لپاره سه پارچه استادان ټاکل شوي، او مدرسه د اناثو درالحفاظ ته بدلون موندلی دی. همدارنګه، د ښار د پوهنې آمریت اړوند یوه نهاریه مدرسه د لیلیه مدرسې ته لوړول شوې ده.

**2.2 فعالیت: د اسلامي زده کړو له تاسیس، د نوم بدلون، ارتقاء، تمدید او د خصوصي مرکزونو د جواز د بڼې د بدلون څخه کتنه او کنټرول؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال تر پای پورې، د زابل پوهنې ریاست د اسلامي زده کړو آمریت اړوند د خصوصي مرکزونو د تأسیس، ډول بدلون، ارتقاء، تمدید، او د جواز او د بنیاد بدلون د شرایطو د نه پوره کیدو له امله نه دی شوی. همدارنګه، د 10 بابه خصوصي زده کړو مرکزونو څخه د پوهنې ریاست رئیس، د مدرسو د عمومي مدیر، او د نظارت او ارزونې دوه تنه مسلکي غړو لخوا ګډه څارنه ترسره شوې ده.

**2.3 فعالیت: د 15000 حافظانو او علماء کرامو د سویې تثبیت؛**

د 1403 مالي کال تر پای پورې، د اسلامي زده کړو آمریت له لوري د زابل ولایت په سطحه 570 تنه حافظان او علماء کرام ثبت شوي دي، له دې جملې څخه 97 تنه د دولسم ټولګي، 37 تنه د څوارلسم ټولګي او همدارنګه 128 تنه حافظان شامل دي.

**2.4 فعالیت: د دارالعلومونو د اداري او تدریسي لوازمو د اړتیاوو بشپړول او تجهیزول؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال تر پای پورې، د اسلامي زده کړو آمریت له لورې د زابل ولایت د مرکز قلات دارالعلوم ته ۱ کمپیوټر او همدارنګه ۱ دانه پرینټر ورکړل شو.

**2.5 فعالیت: د طالب العلمانو لپاره د لیلیې رامنځته کول؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال تر پای پورې، په مرکز قلات او ټولو ولسوالیو په ځینو مدرسو کې ۶۰۰ طالب العلمانو ته د لیلیې زمینه مساعده شوې ده.

**2.6 فعالیت: په دارالعلومونو کې د اختصاصي ازموینې له لارې د عالي دورې په 13 او 14 ټولګیو او د دارالعلوم په لومړنۍ دورې کې د جدیدالشمولانو جلب او جذب؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال تر پای پورې، د مرکز قلات دارالعلوم په لومړنۍ دورې کې ۵۴ تنه طالب العلمان جذب شوي دي.

**2.7 فعالیت: د 7700 مدرسو او د نویو دارالحفاظونو جوړول او نیمه عالي دارالحفافظونو ته د 3 بابه دارالحفاظونو لوړول؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال تر پای پورې، په مرکز قلات او (شاجوی، خاک افغان، شملزائي، شنکی، سیوري، مېزانه، ارغنداب، نوبهار او دایچوپان) ولسوالیو کې د نارینه زده کوونکو لپاره ۱۸۰ بابه مدرسې ایجاد شوي دي. همدارنګه، نیمه او عالي دارالحفاظونه د شرایطو د نه پوره کولو له امله نه دي لوړ شوي.

**2.8 فعالیت: د هېواد په مرکز او ولایتونو کې د 600 بابه کلیوالي مدرسو او دارالحفاظونو جوړول؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال تر پای پورې، په مرکز قلات، شاجوی او شنکی ولسوالیو کې ۱۰ بابه کلیوالي مدرسې جوړې شوې دي. همدارنګه، ۳ کلیوالي دارالحفاظونه، چې یو باب یې په مرکز قلات کې، یو باب یې په ارغنداب ولسوالی کې او یو باب یې په خاک افغان ولسوالی کې ایجاد شوي دي.

**2.9 فعالیت: د هېواد په مرکز او ولایتونو کې د 16000 بابه عمومي او کلیوالي مدرسو سمبالول/تجهیزول؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال ترپای پورې، د اسلامي زده کړو آمریت اړوند په مرکز او ولسوالیو کې ۴۷۰ بابه کلیوالي مدرسو ته اجناس توزیع شوي دي.

## 3. سرچینې او اداره

**3.1 فعالیت: ښوونیزو او اداري مرکزونو او نویو تاسیس شویو ښوونځیو ته د تشکیل او کوډونو لیږدول؛**

د 1403 مالي کال ترپایه یاد فعالیت نده ترسره شوي ځکه چې نوي تاسیس شوي ښوونځي نلرو.

**3.3 فعالیت: د ښوونځیو د تشکیل لوړول له لومړني ښوونځي څخه منځني او لیسې ته او نورو ښوونیزو اداري مرکزونو ته لوړول؛**

د زابل ولایت د مالي او اداري آمریت اړوند د کارکوونکو چارو مدیریت لخوا د مالي کال ترپایه (۲) بابه ښوونځیو له ابتدائیه څخه منځنی ښوونځی او (۱) باب ښوونځی له متوسطه څخه لیسې دورې ته ارتقاء کړې ده.

**3.3 فعالیت: د طرحو، ساختارونو او تشکیلاتي احصایو نهایي کول او د منظورۍ او تطبیق په خاطر یې د ریاست الوزرا لوړ مقام ته لیږل؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال تر پای پورې، د طرحې ساختارونو او تشکیلاتي احصایې د نهایی کولو او د منظوري او تطبیق په خاطر یې موضوع د ریاست الوزراء لوړ مقام ته وړاندې شوې ده او منظوري یې ترلاسه کړې ده.

**3.4 فعالیت: د بشري سرچینو د پروسو ساده کول او سمون او د مرکزي او ولایتي ادارو د دندو د لایحو بیا کتنه او معیاري کول؛**

د زابل د پوهنې ریاست د بشري سرچینو مدیریت له لورې، د مرکز، ولسوالیو او مضمونونو پر اساس د ښوونیزو مرکزونو د بستونو، دندو او لایحو بیاکتنه ترسره شوې ده.

**3.5 فعالیت: په 10 ولایتونو ( کندهار، زابل، هرات، باغیس، بلخ، سمنګان، کندز، بغلان، ننګرهار او پکتیا) کې د تشکیلاتو د کرنلارې سره سم د تشکیلاتو تطبیقول؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال تر پای پورې، د زابل پوهنې ریاست د بشري سرچینو مدیریت له لوري د ټاکل شوې کرنلارې سره سم تشکیل عملي شوی دی.

**3.6 فعالیت: د بریښنایي سیستم د تطبیق، د جنسونو د محاسبې او عامه جایدادونو (جنسونو، سامانونو، وسایطو اونورو ... ) د ثبت او د څارنې د څرنګوالي په موخه د یو تخنیکي تیم ټاکل او لیږل؛**

د 1403 مالي کال ترپایه یاد فعالیت نه دی ترسره شوی، ځکه چې په زابل ولایت کې بریښنایی سیستم شتون نه لري.

**3.7 فعالیت: په ولایتونو کې د اسلامي امارت د 1403 کال بودیجې څخه د بنسټیزو نیمه کاره پروژو (ښوونځیو، مدرسو او دارالحفاظونو) بشپړول؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال تر پای پورې، یاد فعالیت نه دی ترسره شوی، ځکه چې د بنسټیزو نیمګړو پروژو شتون نه درلود.

**3.8 فعالیت: د دولت او همکارو موسسو له بودیجې څخه د ساختماني پروژو جوړول؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال تر پای پورې، د زابل ولایت د پوهنې ریاست د املاکو مدیریت اړوند، د اسلامي امارت له بودیجې څخه هېڅ ودانۍ نه ده جوړه شوې. خو د پلان مدیریت سره په همغږۍ کې د ۲۲ ودانیو غوښتنه شوې ده. همدارنګه، د UNHCR په مالي لګښت د دریو ښوونځیو — د کاکړانو ښوونځي، د خرواریانو ښوونځي او د لسم نمبر ښوونځي — د تعمیراتي چارو عملي کارونه په مرکز قلات کې روان دي.

**3.9 فعالیت: د ښوونځیو د ساتنې او پاملرنې او املاکو ریاست په همغږۍ سره د ولایتونو ټیمونو له لارې د عادي او موسسو له بودیجې څخه ترمیماتي پروژو تطبیقول؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال تر پای پورې، د اسلامي امارت له بودیجې څخه د ۱۷ بابه ښوونځیو ترمیماتي پروژې عملي شوي دي. همدارنګه تر دې دمه هېڅ همکاره مؤسسه د ښوونځیو د ترمیم په برخه کې د همکارۍ لپاره چمتو شوې نه ده.

**3.10: د مرکز او ولایتونو څخه د بنسټیزو او ترمیماتي پروژو د قیمت ورکولو په موخه په ربعوار ډول د ساختماني موادو د نرخونو راټولول؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال تر پای پورې، له آزاد بازار څخه د توکو نرخونه راټول شوي او اړوندې ادارې ته پر خپل وخت سپارل شوي دي.

**3.11 فعالیت: د ښوونځیو او مدرسو د جوړولو په موخه د معارف پاله خلکو له لارې د شخصي ځمکو برابرول؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال تر پای پورې، په مرکز قلات کې د یوه باب ښوونځي لپاره یو جریب ځمکه د خلکو لخوا وقف شوې ده، د جعفر خېلو لېسې لپاره پنځه جریبه ځمکه هم د خلکو لخوا وقف شوې ده. همدارنګه، په مرکز قلات کې د یوه باب ښوونځي او په خاک افغان ولسوالۍ کې د یوه بل ښوونځي لپاره د ځمکې د وقف ژمنې شوې دي، خو تر اوسه د خلکو ترمنځ د ښوونځیو د ځمکې د ټاکلو پر سر د اختلاف له امله دا ځمکې نه دي سپارل شوې.

**3.12 فعالیت: د مرکز او ولایتونو په کچه د پوهنې اړوند تر دعوې او شخړې لاندې غصب شویو جایدادونو د دوسیو تعقیبول او د پوهنې د غصب شویو، نیول شویو او تر دعوې لاندې جایدادونو خلاصول؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال تر پای پورې، د نسوان رساله، چهل دختران، ښارګوټي، شاه مردان، شیخمتي، او لیکک ښوونځیو د غصب قضیې د قضایاوو آمریت سره تر تعقیب لاندې دي. همدارنګه، یوه دعوایي ځمکه چې په نوبهار ولسوالۍ کې موقعیت لري، فعلاً یې چارې ځنډېدلي دي.

## 4. د پوهنې ریاست اړوند فعالیتونه (نشرات، تفتیش، مخابره، پلان او نور)

**4.1 فعالیت: د مرکز، ولایتونو او پوهنې ریاستونو استازو ته د ولایت له پوهنې څخه د ترلاسه شویو مکتوبونو د ترلاسه کېدو او ښه اجراآتو په اړه معلومات ورکول؛**

د زابل ولایت دپوهنې ریاست اړوند د مالی کال تر پای پورې چې کوم مکتوبونه ترلاسه سوي، په خپل وخت سره اړوند ادارو ته دبعدي اجرااتو په موخه لیږل شویدي ترڅو په اړه یې لازمې کړنې ترسره شي.

## 3 برخه: آغېزمن، روڼ او ځواب ویونکی مدیریت

**ټولیزه موخه:** د مرکز او ولایتونو په کچه کیفیت لرونکي، انډولیز او رڼو، ارزانه او آغېزمنو ښوونیزو چوپړتیاو د وړاندی کولو او برابرولو لپاره د آغېزمن، روڼ او ځواب ویونکي مدیریت پراختیا او غښتلتیا.

### 1. ښوونه او روزنه

**1.1 فعالیت: د هېواد د ولایتونو په لرې پرتو او محرومو سیمو کې د ښوونکو د ګمارنې له څرنګوالي څخه څارنه؛**
د ۱۴۰۳ مالي کال تر پای پورې، یاد فعالیت نه دی ترسره شوی، ځکه چې د پوهنې وزارت څخه ټیم نه دی راغلی ترڅو په لرې پرتو او محرومو سیمو کې د ښوونکو د ګمارنې له څرنګوالي څخه څارنه ترسره کړي.

**1.2 فعالیت: د اساسي او ثانوي زده کړو ریاست سره په همغږۍ په مرکز او ولایتونو کې د څارنې له لارې د ښوونې او روزنې پروګرام اړوند د پوهنې وزارت سره د همکارو مؤسسو د لاسلیک شویو تعاهد/هوکړه لیکونو څخه د ډاډ ترلاسه کول؛**
د ۱۴۰۳ مالي کال تر پای پورې، یاد فعالیت نه دی ترسره شوی، ځکه چې د پوهنې وزارت څخه ټیم نه دی راغلی ترڅو د همکارو مؤسسو د هوکړه لیکونو څخه ډاډ ترلاسه کړي.

**1.3 فعالیت: په مرکز او ولایتونو کې د اړتیاؤ ارزولو او د ستونزو د پیژندلو په موخه د مسلکي پراختیا له مرکزونو او ساینس مرکز څخه څارنه کول؛**
د ۱۴۰۳ مالي کال تر پای پورې، یاد فعالیت نه دی ترسره شوی، ځکه چې د پوهنې وزارت ټیم نه دی راغلی ترڅو د مسلکي پراختیا له مرکزونو او ساینس مرکز څخه څارنه ترسره کړي.

**1.4 فعالیت: د مقام د وزارت ته د عمومي ریاست او تر چتر لاندې اړوند ریاستونو د کادري غړو د علمي رتبو تصویب او پیشنهادول؛**
د ۱۴۰۳ مالي کال ترپای پورې، د کادري غړو علمي رتبې تر دا مهاله بند دي

**1.5 فعالیت: د کابل ښار په ګډون په ولایتونو کې د ښوونکو د روزنې او مسلکي پراختیا غړو لخوا د ښوونځیو د شوراګانو له کارونو او د هغوی له آغېزمنتوب څخه څارنه؛**
د ۱۴۰۳ مالي کال تر پای پورې، د ښوونکو د روزنې او مسلکي پراختیا غړو لخوا په (شملزایی، ترنک او جلدک، شاجوی، شنکی او سیوري) ولسوالیو کې د ښوونځیو د ۳۷ شوراګانو له کارونو او د هغوی له اغیزمنتوب څخه څارنه ترسره شوې ده. د یادې څارنې په پایله کې، د یادو شوراګانو کارونه مثبت ارزول شوي دي.

**1.6 فعالیت: مسلکي پراختیا، عمومي زده کړو ښوونځیو، سیمه ئیز او چټکو زده کړو ټولګیو او سواد زده کړو کورسونو څخه حمایوي څارنه؛**
د ۱۴۰۳ مالي کال تر پای پورې، د ښوونکو د مسلکي پراختیا د علمي غړو لخوا په مرکز قلات او (شاجوی، ارغنداب، دایچوپان، خاک افغان، مېزانه، ترنک، جلدک، سیوري، شینکی، نوبهار او شملزو) ولسوالیو کې (۱۵۳) بابه ښوونځیو، (۲۸۹) بابه کلیوالي ټوالګیو، او (۱۲۷) بابه چټکو زده کړو څخه حمایوي څارنه ترسره شوه. د دې څارنې په ترڅ کې، ستونزې یې په نښه شوې او لازمې لارښوونې ورته وشوې.

**1.7 فعالیت: د درسونو مشاهدې له لارې د 69156 تنو ښوونکو او نورو ښوونیزو کارکوونکو د کتنو له لارې د روزنیزو اړتیاوو په ډاګه کول؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال تر پای پورې، د ښوونکو د پراختیا علمي غړو لخوا په مرکز قلات او (شاجوی، سیوري، مېزانه، ارغنداب، دایچوپان، خاک افغان، ترنک، جلدک او شینکی) ولسوالیو کې د (۹۶۱) تنه ښوونکي، (۴۰) تنه سرښوونکي ، او د (۵۸) تنه مدیران/آمرین او د سواد زده کړې (۱۸) تنه ښوونکي مشاهده شوي دي. په دې ترڅ کې، د ځینو ښوونکو روزنې ته اړتیا لیدل شوې ده.

**1.8 فعالیت: د ترسره شویو علمي راپورونو ترلاسه کول، توحید، تحلیل او وړاندې کول؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال تر پای پورې، د مرکز قلات او ټولو ولسوالیو علمي غړو څخه ۱۲ میاشتني، ۴ ربعوار او یو کلنی راپورونه ترلاسه شوی، چې وروسته له تحلیل او توحید څخه وړاندې شوي دي.

**1.9 فعالیت: د هوکړه لیکونو کتنه او تخنیکي اصلاح او د همکارو مؤسسو په ملاتړ د ګډې نمونوي څارنې ترسره کول؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال تر پای پورې یاد فعالیت نه دی ترسره شوی، ځکه چې له مرکز څخه ټیم نه دی راغلی تر څو نمونوي څارنه ترسره کړي.

**1.10 فعالیت: د ولایتي ریاستونو له لارې په کابل ښار او ولایتونو کې د انجونو د زده کړې پر وړاندې د ستونزو او ننګونو په ډاګه کول؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال ترپای پورې، یاد فعالیت نده ترسره شوی،ځکه چې د انجونو ښوونځي تر امر ثاني بند دي.

**1.11 فعالیت: د اساسي او ثانوي زده کړو زده کوونکو له پاره چې له هیواد څخه بهر د زده کړې د دوام غوښتنه لري د ښوونیزو سوابقو او ترانسکرپټونو برابرول؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال ترپای پورې، د زابل پوهنې ریاست د اساسي او ثانوي زده کړو مدیریت له لوري د ۱ تن زده کوونکي تعلیمي سوابق ترتیب او لیږل شوي دي.

**1.12 فعالیت: د سیمه ایزو او چټکو زده کړو د هغو زده کوونکو د احصایې راټول چې د 1403 کال په په پای کې دولتي ښوونځیو ته لېږدول کېږي؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال تر پای پورې، د ښوونکو د روزنې او عمومي زده کړو آمریت اړوند د اساسي او ثانوي زده کړو مدیریت له لوري د صدا، ایل کې آر او موسیسو ۷۹۰ بابه مختلط د چټکو او سیمه ییزو زده کړو ټولګي تسلیم شوي دي چې ۱۸۰۶۴ تنه نارینه او همدارنګه ۱۰۷۴۲ تنه ښځینه زده کوونکي یې دولتي ښوونځیو ته لېږدول شوي دي.

**1.13 فعالیت: په بیړنی حالت کې د زده کوونکو احصایې راټولول او توحیدول؛**

د زابل ولایت د پوهنې ریاست د عمومي زده کړو آمریت اړوند د څلورمې ربعې تر پای پورې په شاجوی او ارغنداب ولسوالیو کې (5) بابه ښوونځي په بیړني حالت کې قرار لري او د سیلاب له خطر سره مخ دي. له بهر څخه (25) تنه زده کوونکي مرجعه کړې دي چې له ازموینې څخه وروسته ښوونځیو ته معرفي شوي دي. همدارنګه، په زابل ولایت کې (60) بابه تړلې ښوونځي شتون لري چې اوسطاً (۱۸۳۰۰) زده کوونکي یې د زده کړو له نعمت څخه بې برخې پاتې دي.

**1.14 فعالیت: د روغتیا نړیوال سازمان (WHO) او د خوړو نړیوال پروګرام (WFP) په مرسته د هېواد په ټولو ښوونځیو کې د کولمو د چینجیو د له منځه وړلو ټولیز کمپاین ترسره کول او د الیندازول د ټابلیټونو ویشل؛**

1403 کال څلورمې ربعې تر پایه په مرکز قلات او ولسوالیو کې د ښوونځیو، مدرسو، محلي او چټکو زده کړو ټولګیو (89640) تنه شاګردانو ته الیندازول ګولی توزیع شوې دي. له دې جملې څخه برخمن شویو ښوونځیو شمېر (170) ښوونځي دی او همدارنګه (516) مدارس هم تر دې برخمن شوي دي.

**1.15 فعالیت: د کابل ښار پوهنې ریاست په ګډون په ټولو ولایتونو کې د څارندوی ټیمونو له لارې د مخدره موادو پر وړاندې د مبارزې تبلیغات کول؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال تر پای پورې یاد فعالیت د بودیجې د نشتون له امله نه دی ترسره شوی.

**1.16 فعالیت: د وړتیاوو د معلومولو او ملي او نړیوالو سیالیو ته د معرفي کولو په موخه د ورزشي سیالیو په لاره اچول؛**

د 1403 مالي کال ترپایه یاد فعالیت د بودیجې د نشتون له امله نده ترسره شوی.

**1.17 فعالیت: د سواد د زده کړې برنامو څخه د مرستې او ملاتړ د جلب په موخه د ولایت او د ولسوالیو په کچه د سواد د کمیټو غونډو دایرول؛**

د 1403 مالي کال تر پای پورې، د سواد زده کړې برنامو څخه د مرستې او ملاتړ په موخه (3) غونډې په مرکز کې جوړه شوې دي چې په یاده غونډه کې (22) تنو ګډون کړی و. همدارنګه، په (مېزانه، شاجوی، خاک افغان، شنکی او اطغر) ولسوالیو کې د سواد زده کړې برنامې څخه د مرستې او ملاتړ په موخه 43 غونډې دایر شوې چې په یادو غونډو کې 160 کسانو ګډون کړی و.

**1.18 فعالیت: د خصوصي ښوونځیو او ښوونیزو کورسونو د امتیاز دلیږد، د ځای د بدلون او ځای ناستي او مدیر ته اعتبار ورکول؛**

د 1403 مالي کال تر پای پورې، د شاجوی ولسوالی د پوهنې آمریت اړوند د شاجوی خصوصي ښوونځي کې یو تن د مدیر په حیث مقرر شو. همدارنګه، د ترنک خصوصي نمبر (5) او د ترنک خصوصي نمبر (6) مدیران هم معرفی شوي دي.

## 3. اسلامي زده کړې

**2.1 فعالیت: د علماو کرامو د عالیه او خامسه درجو او د اسلامي زده کړو ډیپلوماتیک او ثبت شوي اتشې سندونو ارزونه؛**

د ۱۴۰۳ کال د مالي کال ترپایه پورې، د اسلامي زده کړو آمریت لخوا د زابل ولایت په کچه د دولسم ټولګي لپاره د 301 تنه او څوارلسم ټولګي لپاره د 110 تنه علماء کرامو سندونه ثبت شوي دي.

**2.2 فعالیت: د مرکز او ولایتونو په کچه د مسلکي پراختیا غږو له فعالیتونو څارنه او کنټرول؛**

د 1403 مالي کال تر پای پورې، د زابل ولایت د پوهنې ریاست د اسلامي زده کړو آمریت اړوند د علمي غړو لخوا 50 بابه مدرسو او 10 بابه دارالحفاظونو د اداري کارونو څخه کتنه ترسره شوې ده.

**2.3 فعالیت: په دارالعلومونو کې د نویو علمي، کدري استادانو د کادرونو اجرا او د علمي رتبو لوړول؛**

د 1403 کال د څلورمې ربعې ترپایه، د اسلامي زده کړو آمریت اړوند د قلات دارالعلوم 3 تنه ښوونکي د کدري امتیاز څخه برخمن شوي دي، او همدارنګه د 9 تنو ښوونکو کدري فورمې مرکز ته د منظورې په موخه استول شوي دي چې تر اوسه پورې منظور شوي نه دي.

**2.4 فعالیت: له 30769 تنو ګډونوالو څخه د ازموینې اخېستل او د 13 او 14 ټولګیو د ارزول شویو 30769 قطعو شهادتنامو اجرا کول؛**

د 1403 کال د څلورمې ربعې ترپایه د زابل ولایت د پوهنې ریاست د اسلامي زده کړو آمریت اړوند د دولسم ټولګي 127 قطعې شهادتنامې او همدارنګه د څوارلسم ټولګي 27 قطعې شهادتنامې توزیع شوي دي.

**2.5 فعالیت: په مرکز او ولایتونو کې د قرانکریم د سیالیو ترسره کول؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال تر پای پورې په زابل ولایت کې د قرانکریم سیالی د بودیجې د نشتون له امله ترسره نشوه.

## 3. سرچینې او اداره

**3.1 فعالیت: په مرکز او ولسوالیو کې د بشري سرچینو د راجستریشن په سیستم کې د معلوماتو نوي کول ( د خالي بستونو په ډاګه کول)؛**
د ۱۴۰۳ مالي کال تر پای پورې، د کارکوونکو چارو عمومي مدیریت د ولسوالیو په کچه ټولټال 409 خالي بستونه او په مرکز کې 143 خالي بستونه پېژندلي دي.

**3.2 فعالیت: د مرکز او ولایتونو په کچه د کارکوونکو د ثبت او راجستریشن د وړاندیز شویو تغیراتو ثبتول؛**
د ۱۴۰۳ مالي کال ترپای پورې، د مرکز قلات او ټولو ولسوالیو ۱۱۷۲ تنه عمومي او اسلامي زده کړو کارکوونکي د تشکیل په سیستم کې ثبت او راجستر شوي دي.

**3.3 فعالیت: د تبدیلۍ او بست د لوړوالي چارو د پرمخ بیولو په موخه، استخدام ریاست ته د تشو بستونو په اړه د معلوماتو وړاندې کول؛**
د 1403 مالي کال ترپایه د بشري سرچینو مدیریت له لوري ۴۰ بستونه تبدیل او تغیر شوي دي چې د استخدام ریاست ته یې په هکله معلومات استول شوي دي.

**3.4 فعالیت: د 35000 هویت/پیژند کارټونو چاپ او ویش؛**
د ۱۴۰۳ مالي کال ترپای پورې، د بشري سرچینو مدیریت له لوري د پوهنې ریاست ٦٨٩ تنه کارکوونکو ته د هویت کارټونه توزیع شوي دي.

**3.5 فعالیت: د مرکز او ولایتونو په کچه په تشو بستونو کې د نویو مقرر شویو کارکوونکو د ګمارنې بهیر څخه مدیریت؛**
د 1403 مالي کال تر پای پورې، د کارکوونکو چارو عمومي مدیریت له لوري د مرکز په شمول په ټولو ولسوالیو کې 245 تنه کارکوونکي ګمارل شوي دي. په مرکز او څلورو ولسوالیو (شاجوی، شملزو، ترنک، وجلدک او دایچوپان ولسوالیو) کې 42 تنه ښوونکي مقرر شوي دي او همدارنګه د مرکز په شمول په ټولو ولسوالیو کې 655 تنه علماء کرام مقرر شوي دي.

**3.6 فعالیت: د پوهنې وزارت د ښوونیزو چارو، اداري کارکوونکو او خدماتي کارکوونکو د کړنو د ارزونې نتایجو ( د بست او قدم لوړول بیاکتل او د پراوونو بشپړول؛**
د 1403 مالي کال ترپای پورې، یاد فعالیت نه دی ترسره شوی، ځکه چې د بست او قدم لوړول د وزارت مقام د (4196) 1445/9/17 نېټې کتبه لیک په اساس تر امرثاني پورې معطله شوي دي.

**3.7 فعالیت: د مرکز او ولایتونو په کچه په شرایطو برابر کارکوونکو د تقاعد اجراء کول؛**
د زابل پوهنې ریاست اړوند د بشري سرچینو مدیریت لخوا د پوهنې ریاست په سطحه ټولټال (11) تنه کارکوونکي چې د شرایطو سره برابر کسان پېژندل شوي، د پوهنې وزارت له لوري د (1311) 1446/29 ګڼه لیک په اساس د تقاعد د تمدید موده دوه کاله غځول شوې ده.

**3.8 فعالیت: د راتلونکي امنیتي پیښو د مخنیوي په موخه، له ولایتونو څخه میاشتني، درې میاشتني او کلني امنیتي راپورونو راټولول؛**
د ۱۴۰۳ مالي کال ترپایه ۱۲ میاشتني راپوررونه، ۴ ربعوار راپورونه او همدارنګه ۱ کلنی راپور ترلاسه شوی دی چې خوشبختانه تر اوسه کومه امنیتي پیښه نده رامنځته شوې.

**3.9 فعالیت: د مرکز او ولایتونو په کچه د کتابونو او اداري جنسونو او مالونو د لېږد په موخه د وندې سره سم دڅټک تلونکو او بار وړونکو وسایطو په خدمتي توګه تنظیمول او توظیفول؛**
د زابل پوهنې ریاست اړوند د خدماتو مدیریت لخوا د کتابونو، اداري او مطبوع قرطاسیې د انتقال لپاره خپل موټر نلري

**3.10 فعالیت: د پوهنې وزارت د مرکزي او ولایتونو ادارو لپاره د مطبوع او غیر مطبوع (چاپي او غیر چاپي ) قرطاسیې او مینځوونکو موادو ویشل؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال تر پای پورې، د خدماتو مدیریت له لورې د مرکز قلات او ټولو ولسوالیو ته چاپي او غیر چاپي قرطاسیې او مینځوونکي مواد ویشل شوي دي.

**3.11 فعالیت: د پوهنې اړوند ریاستونو د ښوونځیو زده کوونکو لپاره 44000 پایې میزونو او څوکیو تولیدول او جوړول؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال تر پای پورې، یاد فعالیت د بودیجې د نشتون له امله نه دی ترسره شوی.

**3.12 فعالیت: د ولایتونو پوهنې ریاستونو د 59 نه بشپړ شویو پراختیایې ساختماني پروژو د قرارداد له تطبیق څخه مدیریت کول؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال تر پای پورې، یاد فعالیت د بودیجې د نشتون له امله نه دی ترسره شوی.

**3.13 فعالیت: د مرکز او ولایتونو په کچه د اړتیا او لارښوونې سره سم د ساختماني او ترمیماتي پروژو د تطبیق له بهیر څخه په بېلابېلو وختونو کې څارنه؛**

د 1403 مالي کال تر پای پورې، له ۳ بنسټیزو پروژو څخه چې د مرکز قلات اړوند د (لسم نمبر، خرواریانو او کاکړانو) ښوونځي ساختماني چارې روانې دي، مسلکي کسان یې څارنه نه شي ترسره کولای، ځکه چې د وزارت سره رسمي تفاهم نامه نه لري چې دیونېسیار په مالي لګښت ترسره کیږي. همدارنګه، موږ ۱۷ ترمیماتي پروژې لرو چې له جملې یې په مرکز قلات کې ٦ بابه (د پوهنې ریاست مرکزي هسته کې نوی تعمیر، د مرکزي هستې زوړ تعمیر، سلطان ملخي لیسه، بي بي خالا لیسه، شیخمتي بابا لیسه او مرکزي دالعلوم)، په شاه جوی ولسوالۍ کې ۳ بابه (خاکه لیسه، کوچیانو لیسه او هولان رباط لیسه)، په شهر صفا ولسوالۍ کې ۴ بابه (غشي رباط، مانده، ملیزایي او احمد شاه بابا لیسه)، په ارغنداب ولسوالۍ کې ۱ باب (باغ لیسه)، په سیوري ولسوالۍ کې ۲ بابه (بدین او هولان رباط لیسه)، او په نوبهار ولسوالۍ کې ۱ باب ښوونځی د شهاک لیسې په نامه دي، چې ترمیمات پکې شروع شوي دي او وخت په وخت یې څارنه ترسره شوې ده.

**3.14 فعالیت: د مرکز او ولایتونو په کچه د پوهنې د کرایې ورکړل شویو او نیول شویو جایدادونو د قراردادونو چارو څخه څارنه او مدیریت ترسره کول؛**

د 1403 مالي کال ترپایه پورې، په مرکز قلات کې ۸ بابه او په شاجوی ولسوالۍ کې ۱ باب ښوونځي لپاره حویلۍ په کرایه نیول شوې ده، د یادو ښوونځیو له قراردادونو څخه په بشپړ ډول څارنه ترسره شوې او کړنې یې په سم ډول مدیریت شوي دي.

**3.15 فعالیت: د اسلامي امارت او همکارو موسسو د بودیجې څخه د ترمیماتي پروژو په برخه کې د تخنیکي نظر څرګندول؛**

1403 مالي کال تر پای پورې، د اسلامي امارت له بودیجې څخه په مرکز او ولسوالیو کې د 17 ترمیماتي پروژو کارونه روان دي. د دې پروژو له جملې څخه په مرکز قلات کې ٦ بابه (د پوهنې ریاست مرکزي هستې نوی تعمیر، د پوهنې ریاست زوړ تعمیر، سلطان ملخي لیسه، بي بي خالا لیسه، شیخمتي بابا لیسه او مرکزي دالعلوم)، په شاه جوی ولسوالۍ کې ۳ بابه (خاکه لیسه، کوچیانو لیسه او هولان رباط لیسه)، په شهر صفا ولسوالۍ کې ۴ بابه (غشي رباط، مانده، ملیزایي او احمد شاه بابا لیسه)، په ارغنداب ولسوالۍ کې ۱ باب (باغ لیسه)، په سیوري ولسوالۍ کې ۲ بابه (بدین او هولان رباط لیسه)، او په نوبهار ولسوالۍ کې ۱ باب ښوونځی (د شهاک لیسې په نامه) شامل دي، چې ترمیمات پکې شروع شوي دي او وخت په وخت یې څارنه ترسره شوې ده. همدارنګه، د یونسیار په مالي ملاتړ د ۳ بابه بنسټیزو پروژو (خرواریانو، لسم نمبر او کاکړانو) د ښوونځیو ساختماني چارې روانې دي، خو د پوهنې وزارت سره رسمي تفاهم نامه نه لري او مسلکي کسان یې څارنه نه شي ترسره کولی.

## 4. د پوهنې ریاست اړوند فعالیتونه (نشرات، تفتیش، مخابره، پلان او نور)

**4.1 فعالیت: د پوهنې وزارت د معینیتونو سره د دریم او څلورم بستونو د ازموینو په هکله همغږي؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال ترپای پورې، د بشري سرچینو لوی مدیریت لخوا ۲ تنه په دریم بستونو کې او همدارنګه 30 تنه په څلورم بستونو کې د وزارت مقام ته پیشنهاد شوي دي.

**4.2 فعالیت: د همکارو موسسو او نورو غیر دولتي ادارو سره د تفاهم نامو د یاداښت طی مراحل کول او د هوکړه لیکونو لاسلیک کول؛**

د 1403 مالي کال ترپایه پورې، د افغان خیریه ټولنې، کې آر او او همدارنګه د صدا موسسې سره د تفاهم نامه د طی مراحل او هوکړه لاسلیک شوې ده.

**4.3 فعالیت: د مرکزي او ولایتي ادارو د ټولو مکتوبونو، فرمانونو، مصوبو او طرزالعملونو د لېږد را لېږد په برخه کې دوامداره همغږي او د اړیکو ټینګول؛ او د کابل ښار او ولایتونو د پوهنې ریاستونو د پیشنهادونو طی مراحل کول؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال تر پای پورې، ۱۷ دانې متحدالمال او متفرقه مکتوبونه تعقیب شوي، ۷۰۰ دانې مکتوبونه ترلاسه او پر خپل وخت اړوندو شعبو ته استول شوي، ۳۰۸۴ سندونه لیږل شوي دي، ۵ فرمانونه، ۱۷ حکمونه او ۲ مصوبې اړوندو شعباتو ته تکثیر شوي، او ۱۰۴ دانې وړاندیزونه د وزارت محترم مقام ته استول شوي دي.

**4.4 فعالیت: د ولایتونو څخه د تر لاسه شویو راپورونو تعقیب، کنترول او انسجام او د پوهنې د کارکوونکو د داخلي خدمتي سفرونو تنظیمول؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال تر پای پورې، له مرکز څخه ۹ تخنیکي او اداري ټیمونه زابل ولایت ته راغلي، او همدارنګه د ۲۲ تنو خدمتي کارکوونکو اسناد تر اړینو مراحلو تېر شوي دي.

**4.5 فعالیت: د معینیتونو، مرکزي ریاستونو او د ولایتونو د پوهنې ریاستونو د ترلاسه شویو اسنادو هر اړخیزه کتنه او اړونده مرجعو ته یې استول؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال تر پای پورې، د پوهنې ریاست د دفتر مدیریت له لوري ۳۰۸۶ اسناد هر اړخیزه کارشناسي شوي او تر ارزونې وروسته اړوند شعبو ته په خپل وخت سپارل شوي دي. همدارنګه، ۱۰۷۵ مکتوبونه د پوهنې ریاست دفتر ته راجع شوي دي.

**4.6 فعالیت: د کوچیانو د ښوونیزو چارو د ملاتړ او تقویتي پروګرامونو تنظیمول؛**

د 1403 مالي کال ترپایه د کوچیانو د ښوونیزو چارو د ملاتړ په موخه تقویتي پروګرامونه د بودیجې د کمښت له امله ندي ترسره شوي.

**4.7 فعالیت: د دفتري کارونو څخه مدیریت، د واحدونو تر منځ د همغږۍ رامنځ ته کول او د ولایتونو پوهنې ریاستونو ته د د رهبرۍ د ځانګړو لارښوونو او پریکړو ابلاغول؛**

د 1403 مالي کال تر پای پورې، د زابل ولایت د پوهنې ریاست ته د د رهبرۍ ځانګړې لارښوونې په پوره همغږۍ سره شریک شوي دي او همدارنګه دفتري کارونه 100٪ مدیریت شوي او کنټرول شوي دي.

**4.8 فعالیت: په ملي، ولایتي او ولسوالیو په کچه د عملیاتي پلانونو تحلیل، انسجام او توحیدول؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال تر پای پورې، د ۱۴۰۳ کال (۱) عملیاتي پلان تحلیل، انسجام او توحید چارې ترسره او اړوند برنامو او ولسوالیوته په رسمي ډول لیږل سویدي.

**4.9 فعالیت: د مرکز او ولایتونو په کچه د ښوونیرو مرکزونو د جوړولو د ملي پلان تحلیل، انسجام او توحیدول؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال تر پای پورې، د زابل ولایت د پوهنې ریاست د ښوونیزو مرکزونو د جوړولو ملي پلان د تحلیل، انسجام او توحید وروسته د پوهنې وزارت مقام سره شریک شوی دی.

**4.10 فعالیت: په مرکزي او ولایتي کچه د انکشافي پروژو د کانسپت نوټونو تحلیل، انسجام او توحیدول؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال تر پای پورې، د پلان مدیریت لخوا ۲۱ ساختماني پروژو کانسپټ نوټونو تحلیل، انسجام او توحید ترسره شوی دی.

**4.11 فعالیت: د پوهنې وزارت د پنځه کلن ملي پلان تسوید او د مشورې او نظر غوښتلو په موخه د معینیتونو، مرکزي ریاستونو او د ولایتونو د پوهنې ریاستونو سره شریکول؛**

د زابل ولایت د پوهنې ریاست اړوند د مالي کال تر پایه، د پوهنې ریاست د پنځه کلن ملي پلان د مشورې او نظرغوښتنې په موخه اړوندو برنامو او ولسوالیو سره شریک شوی دی. د نظر غوښتلو وروسته، پلان د پوهنې وزارت د پلان ریاست ته استول شوی دی.

**4.12 فعالیت: دمرکزي او ولایتي ریسانو او د برنامو او ولسوالیو پوهنې آمرینو د کاري پلانونو تحلیل او انسجام؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال ترپای پورې، د زابل ولایت د پوهنې رئیس کاري پلان او همدارنگه د پوهنې ریاست اړوند آمرینو او مدیرانو ۲۰ کاري پلانونه ترتیب شوي.

**4.13 فعالیت: د پوهنې وزارت تر چتر لاندې مرکزي او ولایتي واحدونو د عادي او انکشافي بودیجې د مالي فعالیتونو او کړنو څخه پلټنه او کتنه او د قوانینو مراعتول؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال تر پای پورې، د پوهنې وزارت د پلټنې ریاست څخه یو ټیم زابل ولایت ته راغلی و تر څو د عادي او انکشافي بودیجې د مالي فعالیتونو او کړنو څخه پلټنه او کتنه ترسره کړي.

**4.14 فعالیت: د عدلي او قضایي ارگانونو د قرار کشفي ځانگړو قضایاؤ بشپړول او د پوهنې وزارت تر اغیز لاندې واحدونو، بهرنیو ادارو او اشخاصو لخوا د وړاندې شویو شکایتونو او راپورونو کتنه؛**

د ۱۴۰۳ کال مالي کال تر پای پورې، د زابل پوهنې ریاست د پلټنې مدیریت لخوا په مرکز قلات کې د ۴ ځانگړو قضیو په اړه اړین اجراآت ترسره شوي دي.

**4.15 فعالیت: په مرکز او ولایتونو کې د مختصر نصاب تدریس، د کارکوونکو څخه د ازموینې اخیستل او د اصلاحي پروگرامونو پلي کول؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال تر پای پورې، د زابل ولایت پوهنې ریاست اړوند ۲۰۰ تنه کارمندانو ته د مختصر نصاب تدریس شوی دی، او له یادو کسانو څخه امتحان هم اخیستل شوی دی.

**4.16 فعالیت: د مرکز او ولایتونو کارکوونکو ته د اسلامي شریعت د احکامو سره سم توصیه او د هغوی د صورت او سیرت اصلاح او د اسلامي امارت د پالیسۍ پربنسټ د اولوالامر اطاعت کول؛**

د 1403 مالي کال ترپای پورې، په مرکز او ولسوالیو کې ۴۷۷ تنه کارمندانو ته د اسلامي شریعت د احکامو سره سم توصیه او د هغوی د صورت او سیرت اصلاح او د اسلامي امارت د پالیسۍ پر بنسټ د اولوالامر اطاعت کولو ته رابلل شوي دي.

**4.17 فعالیت: د معینیتونو، ریاستونو او کارکوونکو سره د غونډو ترسره کول او د ولایتونو او جانبي ادارو په کچه د امام مبلغ استازو معرفي کول؛**

د 1403 مالي کال ترپای پورې، یاد فعالیت د بودیجې د نشتون له امله نه دی ترسره شوی.

## دریمه برخه

### د غیر پلاني فعالیتونو او لاسته راوړنو برخه

- په دې برخه کې اجراآت نه دي ترسره شوي.

## ځلورمه برخه

# تحلیل او پایلې

| لومړۍ برخه: کیفیت او تړاو | | | | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| شمېره | فعالیتونه | شاخص | کلنۍ موخه | کمي پرمختګ | د پرمختګ سلنه | د فعالیت حالت: بشپړ شوی | تر کار لاندې | نا پیل شوی | ځنډول شوی | د بشپړ شویو فعالیتونو پایلې | نا پیل شویو، ځنډول شویو نه بشپړ شویو فعالیتونو لاملونه |
| 1. ښوونه او روزنه | | | | | | | | | | | |
| 1.1 | د مرکزي او ولایتي ښوونځیو دکتابتونونو د کتابدارانو د اړتیاوو ارزونه او ظرفیت لوړول؛ | د ځانګړو شویو ولایتي کتابتونونو شمېر | 10 | 0 | 0٪ | | | √ | | | د مرکز څخه تیم ندی راغلی ترڅو ارزونه ترسره کړي |
| 1.2 | د عمومي زده کړو، اسلامي زده کړو او سواد زده کړې د اړتیاوو د ارزونې موندنو پر بنسټ د ښوونیزو موادو پراختیا؛ | د سواد زده کړې د ځانګړو شویو کورسونو شمېر | 20 | 30 | 100٪ | √ | | | | ښوونیزو مواد پراختیا موندلې ده | |
| 1.3 | د ولایتونو په کچه د علمي غړو (مربیانو) ظرفیت لوړول؛ | د مرکزي تیم لخوا د روزل شوو ولایتي علمي غړو شمېر | 13 | 23 | 100٪ | √ | | | | عامه پوهاوی زیات شویده | |
| | | د ولایتي تیمونو لخوا د ولسوالیو په کچه د روزل شوو علمي غړو شمېر | 88 | 0 | 0٪ | | | √ | | | د بودیجې دنشتون له امله روزنه نده ورکړل شوې |
| 1.4 | د علمي افکارو، مسؤلیت منلو او بنه چلند په برخه کې په مرکز او ولایتونو کې د ښوونکو، مدیرانو او د ښوونځیو د اداري شوراګانو او علمي غړو لپاره د ظرفیت لوړولو د پروګرامونو ترتیبول؛ | د روزل شوو ښوونکو شمېر | 390 | 497 | 100٪ | √ | | | | د پروګرامونو په دایرولو سره به د علمي غړو، مدیریانو،سرښوونکو او ښوونکو په کارونو کې ظرفیت رامنځ ته سي. | |
| | | د روزل شوو سر ښوونکو شمېر | 20 | 63 | ٪100 | √ | | | | | |
| | | د روزل شوو مدیرانو/آمرینو شمېر | 20 | 60 | ٪100 | √ | | | | | |

| | | | | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | | د روزل شوو علمي غړو شمېر | 101 | 37 | ٪37 | | √ | | | | |
| 1.5 | کارکوونکو ته د جواز ورکولو د سیستم د پلی کیدو په موخه لازم چمتوالی؛ | د جواز ورکولو سیستم د معرفی کولو په برخه کې د روزل شوو کارکوونکو شمېر | 101 | 0 | 0٪ | | | √ | | | یاد فعالیت د بودیجې د نشتون له امله ندی ترسره شوی |
| 1.6 | د لابراتوارنو د اړتیاوو معلومولوپاره سروې او په مرکز او ولایتونو کې د ترسره شوو پروګرامونو حمایوي څارنه؛ | د سروې اوحمایوي ترسره شوې څارنې شمېر | 1 | 13 | 100٪ | √ | | | | د یادو ښوونځیو له لابراتوارونو څخه سروې ترسره او لازمي سپارښتنې ورته وشوې | |
| 1.7 | د لابراتوارونو او کمپیوټرونو اغیزمنتوب او کارولو څخه څارنه او لیدنه؛ | د ترسره شوو کتنو شمېر | 1 | 19 | 100٪ | √ | | | | د یادو ښوونځیو مسؤلینو ته د کمپیترونو د اغیزمنتوب په موخه لازمي سپارښتنې وشوې | |
| 1.8 | د ساینس ولایتي مدیریتونو علمي غړو او لابرانت لپاره د ساینس، ریاضي او کمپیوټر برخه کې د روزنیزو پروګرامونو تنظیمول؛ | د روزل شوو علمي غړو شمېر | 9 | 0 | 0٪ | | | √ | | | د مرکز ساینس ریاست څخه څوک نه دي راغللي تر څو یاد فعالیت ترسره شي |
| | | د ښوونځیو په کچه د روزل شوو لابرانټ ښوونکو شمېر | 50 | 50 | ۱۰۰٪ | √ | | | | | |
| 1.9 | ذ مسلکي غړو له خوا دکابل ښار او په ولایتونو کې د ریاست د تخنیکي غړو لخوا د واش (WASH) Deworming په برخه کې د څاروندی د تروپ ګروپونو او بدني روزنې ښوونکو لپاره د سیمینارونو او ورکشاپونو دایرول؛ | د دایرشوو ورکشاپونو شمېر | 1 | 1 | 10٪ | √ | | | | د دایر شویو ورکشاپونو په واسطه باندې به د اصولی صنفي، بدني روزنې ښوونکو، مدیرانو او آمرینو مهارت نور هم زیات او د زده کوونکو حفظ الصحې ته پام لرنه زیاته شوې. | |
| | | د بدني روزنې د مسلکي او غیر مسلکي روزل شوو ښوونکو شمېر | 10 | 10 | 100٪ | √ | | | | | |
| | | د اصول صنفي روزل شوو ښوونکو شمېر | 4 | 4 | 100٪ | √ | | | | | |
| | | د روغتیا په برخه کې د ښوونکو، مدیرانو، آمرینو او مسلکي روزل شوو غړو شمېر | 65 | 24 | 37٪ | | √ | | | | |

| | | | | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | | د روغتیا په برخه کې له روزنو د برخمن شویو زده کوونکو او ښوونکو شمېر | 600 | 0 | 0٪ | | | √ | | | |
| 1.10 | د ځاني ارزونې له مخې د قابلیتونو د ارزونې په برخه کې د ولایتونو او کابل ښار په ګډون د لازم ظرفیت رامنځته کول او د سواد زده کړې د پروګرامونو د کیفیت د ښه والي لپاره د لازمو لارښوونو ترتیبول او ملي کول؛ | تر پوښښ لاندې ولایتونو شمېر | 1 | 1 | 100٪ | √ | | | | د سواد زده کړې په کورسونو کې به کیفیت او ښه والي رامنځ ته شي. | |
| 1.11 | د مرکز په کچه د سواد زده کړو د پروګرامونو د ښه تطبیق په موخه، د ترتیب شویو لایحو، طرزالعملونو او لارښودونو د معرفي په هکله د روزنیز ورکشاپ په لاره اچول؛ | د روزل شوو ګډونوالو شمېر | 2 | 65 | 100٪ | √ | | | | د سواد زده کړې پروګرامونو دښه تطبیق په موخه عامه پوهاوی زیات ترلاسه کړ | |
| 1.12 | د سواد زده کړې پروګرام د پلي کولو لپاره د سرچینو تشخیص او ترلاسه کول، د دولتي، غیر دولتي بنسټونو او رضاکارانو ملاتړ ترلاسه کول؛ | د تشخیص شویو او جلب شویو بشري سرچینو شمېر | 11 | 0 | 0٪ | | | √ | | | د فقر او غربت له امله یاد فعالیت نه دی ترسره شوی |
| | | د ترلاسه شوي بودجې اندازه (افغانی) | 14000 | 0 | 0٪ | | | √ | | | |
| 1.13 | د سیمه ییزو خلکو (رضا کارانو) له لارې د 18 ولایتونو په کچه د ولایتونو د پوهنې په ریاستونو کې د کلیو د سواد زده کړې کمېټو د غونډو جوړول؛ | د سواد کمېټو د ترسره شویو غونډو شمېر | 50 | ۵۵ | ۱۰۰٪ | √ | | | | | |
| 1.14 | د خصوصي ښوونځیو د قانوني اسنادو د تطبیق څارنه او د جواز ورکولو پروسې اسانتیا او چټکتیا همدارنګه، د شرایطو تحلیل او په هغو ولایتونو کې چې له لسو څخه کم خصوصي ښوونځي شتون لري، د پوهنې په برخه کې د خصوصي سکتور د مشارکت لپاره د زمینې برابرول؛ | د هغو ولایتونو تحلیل او ارزونه چې لرخصوصي ښوونځي لري | 1 | 1 | 100٪ | √ | | | | | |
| 3. اسلامي زده کړې | | | | | | | | | | | |
| 2.2 | دارالعلوم ته د مدرسو لوړول؛ | دارالعلوم ته د ارتقاء شویو مدرسو شمېر | 1 | 0 | 0٪ | | | √ | | | د شرایطو دنه پوره کېدو له امله مدرسې دارالعلوم ته ارتقاء نده کړې |
| 2.2 | | د معلوم شویو اړتیاؤ شمېر | 228 | 0 | 0٪ | | | √ | | | |

| | | | | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | د دارالعلومونو د اداري او تدریسي چارو د بیا کتنې او ارتیاؤ معلوملو په موخه د علمي او تدریسي غړو لېږل؛ | د کتل شویو او بررسی شویو دارالعلومونو شمېر | 57 | 0 | 0٪ | | | √ | | | د علمي غړودنشتون له امله یاد فعالیت نده ترسره شوی |
| 2.3 | په مرکز او ولایتونو کې د نویو مقرر شویو کارکوونکو د ظرفیت لوړولو په موخه د لارښوونې سیمینارونو دایرول؛ | د ولایتي دایر شویو سیمینارونو شمېر | 1 | 1 | 100٪ | √ | | | | د کارکوونکو کاري ظرفیت به لوړ شي | |
| 2.4 | د هېواد په 34 ولایتونو کې د اسلامي زده کړو اړوند مدرسو او دارالحفاظونو د اداري او تدریسي کارونو د بیاکتنې او اړتیاؤ معلوملو په موخه د علمي او تدریسي غړو ورلیږل؛ | د معلوم شویو اړتیاؤ شمېر | 228 | ١٥٠ | ٦٦٪ | | √ | | | | |
| | | د کتل شویو مدرسو او دارالحفاظونو شمېر | 57 | 60 | ١٠٠٪ | √ | | | | | |
| 2.5 | په شته ډیټابیس کې د علماء کرامو د ازموینو ثبتول؛ | د ثبت شویو علماء کرامو شمېر | 514 | 1034 | 100٪ | √ | | | | | |
| 2.6 | په مرکز او ولایتونو کې د مدرسو او دارالحفاظونو استادانو ته د نویو درسي کتابونو د ورپیژندلو په موخه د ورکشاپ دایرول؛ | د روزل شویو ښوونکو شمېر | 21 | 0 | 0٪ | | | √ | | | یاد فعالیت د بودیجې د نشتون له امله ندی ترسره شوی |
| 2.7 | د مدرسو فارغین په عالیه او عالمیه ازموینو کې ثبتول. | د ثبت شویو فارغانو شمېر | 57 | ٣٨١ | 100٪ | √ | | | | | |
| | 3. د کیفیت تضمین | | | | | | | | | | |
| 3.1 | د ولایتونو او ولسوالیو په کچه د کیفیت لرونکو احصاییوي ارقامو راټولولو په موخه د ظرفیت لوړونې ورکشاپونو په لاره اچول؛ | د ولایتونو په کچه د دایر شویو ورکشاپونو شمېر | 10 | 3 | ٪30 | | √ | | | | |
| 3.2 | د هېواد په کچه د 1403 هـ ش کال احصاییوِي ارقامو 10٪ کتنه او تصدیق؛ | د ارقامو د تصدیق شویو راپورونو شمېر | 1 | 1 | ٪100 | √ | | | | | |
| 3.3 | د ډیټاسیټونو، ولایتي پروفایلونو، د احصایې او معلوماتو تحلیلي کتابونو او پوهنې اطلس په بڼه د 1403 هـ ش کال د احصایي ترتیبول او د نشراتو ریاست ته استول؛ | نشراتو ریاست ته د لېږل شویو پروفایلونو شمېر | 1 | 1 | ٪1 | √ | | | | | |
| 3.4 | د ډیټاسیټونو، ولایتي پروفایلونو، د احصایې او معلوماتو تحلیلي کتابونو او پوهنې اطلس په بڼه د 1403 هـ ش کال د احصایي ترتیبول او د نشراتو ریاست ته استول؛ | نشراتو ریاست ته د استول شویو پروفایلونو شمېر | 1 | 1 | ١٠٠٪ | √ | | | | | |
| 3.5 | د نویو تاسیس شویو او د تېرو کلونو د پاتې ښوونځیو د مختصاتو راټولول؛ | د مختصاتو د راټولولو په موخه د پلان شویو روزنیزو مرکزونو شمېر | 514 | 468 | 91٪ | | √ | | | | |

| | | | | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| 3.6 | د بري ليکونو/شهادتنامو ترتيب، تدقيق، طی مراحل او وېشل؛ | په گروپي بڼه د وېشل شويو بري ليکونو شمېر | 742 | ۵٦٢ | ۵۸٪ | | √ | | | | |
| 3.7 | د ولايتونو پوهنې رياستونو ته د سپينو بري ليکونو/شهادتنامو وېشل؛ | د سپينو وېشل شويو بري ليکونو شمېر | 700 | 562 | 80٪ | | √ | | | د 216 نورو سپينو شهادتنامو غوښتنه هم شويده | |
| 3.8 | ؛ د دولسم او څوارلسم ټولگيو د فارغانو د نتايجو جدولونو تدقيق، تطبيق او تاييدول | د دولتي ښوونځيو د پايلو د تاييد شويو جدولونو شمېر | 22 | 22 | 100٪ | √ | | | | | |
| | | د خصوصي ښوونځيو د پايلو د تاييد شويو جدولونو شمېر | 1 | 1 | 0٪ | √ | | | | | |
| 3.9 | د څارنې، ارزونې او راپور ورکولو په برخه کې فردي او نهادي ظرفيت لوړونه؛ | د څارنې، ارزونې او راپور ورکولو په برخو کې د روزل شويو کارکوونکو شمېر | 14 | ۳۴ | 100٪ | √ | | | | د راپور ورکولو په برخه کې ظرفيت لوړونه رامنځته شويده | |
| 3.10 | د ولايتونو پوهنې رياستونو د فعاليتونو او پلانونو له تطبيق څخه ربعواره څارنه؛ | د ولايتونو د څارل شويو پوهنې رياستونو شمېر | 1 | ۱ | 100٪ | √ | | | | کارونه به په ښه شکل ترسره شي | |
| 3.11 | د ولايتونو د پوهنې رياستونو او کابل ښار پوهنې رياست اړوند د پوهنې وزارت د همکارو مؤسسو له پروژو څخه څارنه؛ | د ولايتونو د پوهنې په برخه کې د اړوند مؤسسو د څارل شويو پروژو څخه د ترتيب شويو توحيدي راپورونو شمېر | 1 | 2 | 100٪ | √ | | | | کارونه به په ښه شکل ترسره شي | |
| 3.12 | د عملياتي پلان له تطبيق څخه د څارنې او ارزونې په موخه د راپور ورکولو سيستم استفاده کول؛ | د ولايتونو شمېر چې راپورونه يې د استفادې وړ گرځېدلي | 1 | 1 | 0٪ | √ | | | | | آنلاين سيستم فعاله شوی چې د نوي کال ټول راپورونه به د سيستم له لارې ترتيب شي |
| 3.13 | د 1403 کال لپاره د عملياتي پلان او د باثباته پراختيايي موخو پر بنسټ د ولايتونو د پوهنې رياستونو له کلنی کړنو څخه د ارزونې ترسره کول؛ | د ارزول شويو ولايتونو د پوهنې رياستونو شمېر | 1 | ۱ | 100٪ | √ | | | | | |
| 3.14 | د عملياتي پلان د راپور ورکولو آنلاين سيستم پراختيا او تطبيق؛ | د ولايتونو شمېر چې سيستم پکې فعال او تطبيق شوی دی | 1 | 1 | ۱۰۰٪ | √ | | | | | |
| 3.15 | د چمتو شوي فارمټ سره سم، د ولايتونو په کچه د پلانونو د پرمختگ او لاسته راوړنو ربعوار راپورونو راټولول؛ | د ربعوار راټولو شويو راپورونو شمېر | 4 | 4 | 100٪ | √ | | | | | |
| 3.16 | د مرکز او ولايتونو په کچه د تقنيني اسنادو او پاليسيو د تطبيق د وړتيا ارزونه او تجربوي تطبيق؛ | د ترسره شويو کړنو سلنه | ۱۰۰٪ | 0 | 0٪ | | | √ | | | د مرکز څخه ټيم نده راغلی ترڅو تجربوي تطبيق ترسره کړي |

| | | | | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| 3.17 | د مرکز او ولایتونو په کچه د تقنیني سندونو او پالیسیو په برخو کې د کارکوونکو روزل او ظرفیت لوړونه؛ | د تطبیق شویو روزنیزو پروګرامونو سلنه | ۱۰۰٪ | ۰ | ۰٪ | | | √ | | | د مرکز څخه تیم ندی راغلی |
| 4. سرچيني او اداره | | | | | | | | | | | |
| 4.1 | د 1403 کال د لګول شوې بودیجې له څرنګوالي څخه څارنه او همدارنګه 13 ولایتونو او آتشوو مالي کړنو په برخه کې لارښوونه کول؛ | د آتشو او تر پوښښ لاندې ولایتونو شمېر | 1 | 1 | ٪100 | √ | | | | د بودیجې په خپل وخت مصرف او له نیمګړتیاوو څخه به مخنیوی وشي | |
| 4.2 | د مرکز او ولایتونو په کچه د مالي چارو په برخه کې د کارکوونکو د ظرفیت لوړول؛ | د ولایتونو په کچه د روزل شویو کارکوونکو شمیر | 5 | 5 | 100٪ | √ | | | | دکارکوونکو کاري ظرفیت لوړ شویده | |
| 4.3 | د پوهنې وزارت د اداري کارکوونکو له پاره د ظرفیت لوړولو د استراتیژۍ طرحې جوړول؛ | د پرمختګ سلنه | 100% | 100٪ | ٪100 | √ | | | | | |
| 4.4 | د مرکز او ولایتونو په کچه د کارکوونکو د سوانحو دفترونو تدقیق، تصحیح، تطبیق او برېښنايي کول؛ | د پرمختګ سلنه | 100% | 0 | 0٪ | | | √ | | | دامکاناتو دنشتون له امله یاد فعالیت نده ترسره شوی |
| 4.5 | د مرکز او ولایتونو په کچه د مدرسو او ښوونځیو د جایدادونو له پاره د ملکیت سندونو جوړول؛ | د ترتیب شویو اسنادو شمېر | 5 | 1 | ۲۰٪ | | √ | | | | |
| 4.6 | د مرکز او ولایتونو په کچه د اداري ځایونو او روزنیزو مرکزونو د ودانیو، ترمیمولو او احاطو سجل کول؛ | د سجل شویو ودانیو شمېر | 5 | 0 | 0% | | | √ | | | د سجل لپاره تعمیرات او احاطوي دیوالونه نه لرو |
| | | د روزنیزو مرکزونو د احاطوي سجل شویو دیوالونو شمېر | 5 | 0 | 0٪ | | | √ | | | |
| | | د ترمیم شویو سجل شویو روزنیزو مرکزونو شمېر | 5 | 17 | ٪100 | √ | | | | | |
| 4.7 | د املاکو په دفترونو او معلوماتي سیستم کې د ملکیتونو د سندونو او سجلو ثبتول او د هغو فایلبندي؛ | د ملکیت د ثبت شویو سندونو شمېر | 5 | 1 | 20٪ | | √ | | | | |
| | | د ثبت شویو سجلو شمېر | 38 | 28 | 74٪ | | √ | | | | |
| 4.8 | د هغو سپینو او امارتي ځمکو تثبیتول چې په هغو باندې پخوا د ښوونځیو او مدرسو ودانۍ جوړې شوې او تر اوسه پورې دې وزارت ته دي انتقال شوي؛ | د جوړو شویو ودانیو شمېر | 29 | 22 | 76٪ | | √ | | | | |
| 4.9 | د مرکز او ولایتونو په کچه د غصب، شویو، نیول شویو اودعوایي ځمکو بررسي او د قضیوراټولول او د منازعاتو د حل په معلوماتي سیستم کې ثبتول؛ | د کتل شویو قضیو شمېر | 8 | 6 | 75٪ | | √ | | | | |
| 5. پوهنې ریاست اړوند فعالیتونه (نشرات، تفتیش، پلان، مخابره او نور) | | | | | | | | | | | |

| | | | | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| 5.1 | د امیرالمؤمنین د فرمانونو او د ریاست الوزرا ، وزیرانو شورا او پوهنې وزارت مشرتابه له حکمونو او لارښوونو څخه د داد تر لاسه کولو په موخه سفر تر سره کول؛ | ولایتونو شمېر | 1 | 0 | 0٪ | √ | | | | | د پوهنې وزارت څخه کوم هیئت نده راغلی |
| 5.2 | د عامه پوهاوي او چاپي خپرونو چاپ او ویش؛ | په ولایتي کچه د عرفان د وېشل شویو مجلو شمېر | 900 | 0 | 0٪ | | | √ | | | د نشراتو ریاست له لوري یاد کتابونه ندي رالیرل شوي |
| | | په ولایتي کچه د بخوان و بیندیش د وېشل شویو مجلو شمېر | 900 | 0 | 0٪ | | | √ | | | |
| | | په ولایتي کچه د پوهنې د وېشل شویو اوونیزو شمېر | 1800 | 0 | 0٪ | | | √ | | | |
| | | په ولایتي کچه د وېشل شوې کلیزې شمېر | 45 | 0 | 0٪ | | | √ | | | |
| | | د ولایتونو له پاره د چاپ شویو او وېشل شویو بروشورونو شمېر | 180 | 0 | 0٪ | | | √ | | | |
| 5.3 | د پوهنې د یوکلنې کړنې په هکله د کتابونو چاپ؛ | د ولایتونو له پاره د چاپ شویو او وېشل شویو کتابونو شمېر | 45 | 0 | 0٪ | | | √ | | | د نشراتو ریاست له لوري یاد کتابونه ندي رالیرل شوي |
| 5.4 | د ولایتونو، ولسوالیو او ښوونځیو په کچه د درسي کتابونو د ویشلو له پروسې څخه تخنیکي کتنه؛ | د کتل شویو ولایتونو شمېر | 1 | 0 | 0٪ | | | √ | | | د مرکز څخه تیم نده راغلی ترڅو دکتابونو د ویشلو له پروسي څخه تخنیکي کتنه ترسره کړي |
| 5.5 | تر پوښښ لاندې ولایتونو د پوهنې ریاستونو د اسلامي زده کړو مرکزونو ته( دارالعلومونو او دارالحفاظونو) د 383973 ټوکه درسي کتابونو چاپ او ویش؛ | دارالعلومونو ته د وېشل شویو کتابونو شمېر | 1171 | 0 | 0٪ | | | √ | | | د نشراتو ریاست له لوري یاد کتابونه ندي رالیرل شوي |
| 5.6 | د هیواد په کچه په پښتو او دري ژبه د سواد زده کړې د 181700 ټوکه درسي کتابونو چاپ او ویش؛ | د وېشل شویو درسي کتابونو شمېر | 2,200 | 0 | 0٪ | | | √ | | | د نشراتو ریاست له لوري یاد کتابونه ندي رالیرل شوي |
| 5.7 | د بدني روزنې د ښوونکو د لارښود د 44965 ټوکه درسي کتابونو ویش؛ | د وېشل شویو درسي کتابونو شمېر | 292 | 0 | 0٪ | | | √ | | | د نشراتو ریاست له لوري یاد کتابونه ندي رالیرل شوي |
| 5.8 | په مرکز کې د استهلاک شویو کتابونو د لیلام چارو تعقیبول او د ولایتونو د نشراتو مدیرانو له لوري د کارونو د پراوونو بشپړول؛ | د ولایت په کچه د لیلام شویو کتابونو شمېر | 1 | 0 | 0٪ | | | √ | | | استهلاک کتابونه نه لرو |

| | | | | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| 5.9 | د پلتنې په برخه کې د ولایتي او مرکزي کارکوونکو لپاره د روزنیزو پروګرامونو په لاره اچول؛ | د روزل شویو ولایتي کارکوونکو شمېر | 4 | 0 | 0٪ | | | √ | | | دمرکز څخه ټیم نده راغلی |
| 5.10 | د اړونده پروګرامونو د رسولو په موخه ولایتونو ته د دعوت او ارشاد ریاست د کارکوونکو سفر کول. | د پلان شویو سفرونو شمېر | 2 | 0 | 0٪ | | | √ | | | د اړوند پروګرامونو رسولو په موخه د ریاست څخه تر اوسه پورې څوک نه دي راغلي |
| دویمه برخه: انلولیز لاسرسی | | | | | | | | | | | |
| 1. ښوونه او روزنه | | | | | | | | | | | |
| 1.1 | د هېواد په کچه د ښوونکو د مسلکي پراختیا په موخه د اړونده پروګرامونو د تطبیق له څرنګوالي څخه څارنه؛ | تر پوښښ لاندې ولایتونو شمېر | 1 | 0 | 0٪ | | | √ | | | د مرکز څخه څوک نه دي راغلي تر څو یاد فعالیت ترسره شي. |
| 1.2 | د ولایتونو په کچه د تړل شویو ښوونځیو د بیا پرانستلو او برخلیک ټاکلو په اړه لازم اقدامات؛ | د پرانستل شوو ښووونځیو شمېر | 59 | 0 | 0٪ | | | √ | | | د تړل شویو ښوونځیو د بیا پرانستلو په برخه کې اقدام نه دی ترسره شوی |
| 1.3 | د فزیک، کیمیا، بیولوژي، ریاضي او محیطي ساینس په برخو کې د شته کمپیوټر لبو او لابراتوارونو تجهیزول او رامنځته کول؛ | په ولایتی کچه د ایجاد شوو لابراتوارونو شمېر | 3 | 5 | 100٪ | √ | | | | د یاد فعالیت په ترسره کولو سره به د مضامینو اړوند تجربي عملاً ترسره شي | |
| | | تعداد لابراتوارهای د تجهیز شوو لابراتوارونو شمېر | 3 | 3 | 0٪ | √ | | | | | |
| | | د تجهیز شوو کمپیوټرلب شمېر | 1 | 0 | 0٪ | | | √ | | | |
| 1.4 | په دولتي ښوونځیو کې د مرکز او ولایاتو په کچه د 1000000 جدیدالشمول زده کوونکو جذبول؛ | دنارینه جذب شوو جدیدالشموله شمېر | 14715 | 8774 | 59٪ | | √ | | | | |
| | | د ښځینه جذب شوو جدیدالشموله شمېر | 3902 | 3085 | 79٪ | | √ | | | | |
| 1.5 | د کابل ښار او ولایتونو په کچه د 150 بابه نویو ښووونځیو تأسیس؛ | د تأسیس شوو ښوونځیو شمېر | 6 | 0 | 0٪ | | | √ | | | د تشکیل دنشتون له امله یاد فعالیت ندی ترسره شوی |

